# په افغانستان کی په کرهنیز مولدیت باندې د اوبو په سکتور کې د سمونو اغېزې

اتل احمدزی
د مجیب عزیزي او خالد بهزاد په مرسته
چنګاښ ۱۳۹۲









څېړنې د ښه افغانستان لپاره
AREU

۱۵ کاله
باکیفیته څېړنه

Govern4Afg
Governance Forum Afghanistan
مجمع حکومتداری افغانستان
د افغانستان د حکومتداری غونډه

همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

**د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد**
**او د جرمني د اقتصادي همکاريو او پراختيا فدرالي وزارت**

څېړنپاڼه

# په افغانستان کې په کرهنيز مولديت باندې د اوبو په سکتور کې د سمونو اغېزې


اتل احمدزی

د مجيب عزيزي او خالد بهزاد په مرسته



چنګاښ ۱۳۹۲

دا څېړنه د جرمني د اقتصادي همکارۍ او پراختيا د فدرالي وزارت له خوا تمويل شوې

هغه نظریات چې په دغه څېړنه کې وړاندې شوي په لیکوال پورې اړه لري او د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د نظریاتو منعکس کونکې ندی.

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۲۸-۹۵-۳

د خپرونې کوډ: P ۱۷۱۹

ژباړه: محمد کاظم ملوان

© ۱۳۹۵ د خپراوي حقونه د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU)

یوازې د سوداګریزو موخو لپاره په نورو لیکنو کې د دغې خپرونې نکل او یادونه کېدای شي یا له سره تولیدېدای شي او په دې شرط چې د خپرونې د لیکوالانو او سرچینې نومونه په کې یاد شي. په دې خپرونه کې څرګند شوي نظرونه د لیکوالانو دي او حتمي نه ده چې د او د جرمني د اقتصادي همکاریو او پراختیا فدرالي وزارت او AREU د نظرونو استازیتوب وکړي. ځینې حقونه یې خوندي دي. کومو ځایو کې چې دغه خپرونه بیا وړاندې کېږي، ساتل کېږي یا په الیکترونیکي ډول لېږدول کېږي نو هلته باید د www.areu.org.af (AREU) وېبپاڼه لینک ورکړل شي. له دغو اجازو پرته د خپرونې بل هر ډول کارولو لپاره باید په لیکلې بڼه له مرستیالو خپرونکو، افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره AREU څخه اجازه واخیستل شي. اجازه د دغه ایمیل: areu@areu.org.af یا دې شمېرې ۹۳۰۲۰۲۲۱۲۴۱۵+ له لارې لاسته راوړلی شئ.

# د لیکوونکي په اړه

اتل احمد زی د امریکا د متحده ایالاتو د رتګرز د پوهنتون د نړیوالو اړیکو په څانګه کې د دوکترا کاندید دی. د ده څېړنې د اوبو په مصوونیت او په سرحداتو کې د اوبو پر مسایلو متمرکزې دي. دی په دې ساحو کې د لومړي لاس د څېړنو تجربه لري. دغه تجربې هم په پرمختیایي او هم په هغو ملکونو پورې تړلې چې نا امن دي. احمدزی په ردګرز پوهنتون او سیټون هال کې د بشري مصوونیت، پرمختګ او د څېړنې د میتودونو کورسونه تدریس کوي. احمدزی په څو ژبو ښې خبرې کوي لکه انګلیسي، فارسي، اردو او پښتو او له دې سره له عربې او نیپالي ژبو څخه هم استفاده کولای شي.

## مرسته کوونکي

مجیب احمد عزیزي د افغانستان د څېړنې او ارزونې په اداره کې د مشر څېړونکي مرستیال په حیث کار کوي. له دې پخوا یې، له ۲۰۰۷ څخه تر ۲۰۰۹ پورې په مغلان کې د آغا خان له نهاد سره د اوبولګولو د سیستمونو د مشترک مدیریت د پروژې لپاره د ټولنیز تنظیم کونکې په حیث کار کړی دی. همدارنګه عزیزي له ۲۰۰۹ څخه تر ۲۰۱۱ پورې په کاپیسا کې د میرسي په نهاد کې د پروګرام د رئیس د مرستیال په حیث وظیفه اجرا کړې ده. عزیزي د بغلان له پوهنتون څخه د انګلیسي ادبیاتو په رشته کې شهادت نامه تر لاسه کړې ده. دی دغه راز د طبعي چاپېریال د منابعو د مدیریت د شبکې (ENRMN) او د نوي پیل د شبکې غړیتوب هم لري. عزیزي په افغانستان کې د اوبو د منابعو د مدیریت په اړه په یو شمېر څېړونو کې د مرستیال لیکونکي په حیث کار کړی دی.

خالد بهزاد د افغانستان د څېړنې او ارزونې په اداره کې د څېړنې او پروژو مرستیال دی. د اوبو د انرژي د سیاست له اوسنۍ پروژې څخه مخکې، خالد بهزاد په لاندنیو پروژو کې د څېړنې کارونه تر سره کړي لکه د سرحداتو په منځ کې د اوبو مدیریت، د خدماتو تهیه کول (روغتیا او تعلیم)، د بی سرپرستو ماشومانو مهاجرت او نارینتوب. له دې مخکې بهزاد په خصوصي ښوونځیو کې د ښوونکي په حیث کار کړی دی. بهزاد د کابل د تعلیم او تربیې د پوهنتون څخه د انګلیسي ادبیاتو په رشته کې د تحصیل علمي درجه لري. دغه راز دی د طبعي چاپېریال د مدیریت د شبکې (ENRMN) غړیتوب لري.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري (AREU) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU) په کابل کې د څېړنې یو خپلواک بنسټ دی. د AREU موخه دا ده چې د لوړ کیفیت اړوندو څېړنو او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو خپرولو، او د څېړنې او زده کړې د کلتور د ملاتړ له لارې پر پالیسۍ او عمل خپل اغېز وساتي او په دې اړه پوهاوی لوړ کړي. د خپلې موخې لاسته راوړلو لپاره، AREU د پالیسیو جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د AREU له څېړنو او کتابتونه کار واخلي او د څېړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي، او AREU شننو، فکرکولو او بحثونو ته لاره هواره کړي.

د AREU بنسټ په ۲۰۰۲م کال کې په افغانستان کې د مرستندویه ټولنو له خوا کېښودل شو چې د مرستندویه ادارو، ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو غیر حکومتي ادارو له استازو جوړ د مشرانو یو بورډ لري.

په ۲۰۱۷ کال کې د دغو لاندنیو هیوادونو او سازمانونو له خوائخانګړېپروژې تمویل شوې دي: د اروپا اتحادیه (EU)، پروموندو- د امریکا متحده ایالات، د ناروې د نړیوالو چارو انستیتوت، (NUPI)، د متحده ایالاتو د سولې انستیتوت USIP ، CAREC، SDC/IDS ، EUNP PACK، ODI، SLRC، SDPI، SAARC، SROL، SIDA،د اقتصادي همکارۍ او پرمختګ لپاره د آلمان د فدرال وزارت (BMZ) او د نړیوالې همکارۍ لپاره د آلمان ټولنه (GIZ).

# د موضوعاتو لیکلړ

د مطلب لنډیز ............ ۱
۱. مقدمه ............ ۳
۲. متودولوژي څېړندود ............ ۲
۳. موندنې ............ ۷
۴. پایلې اوورانیزونه ............ ۱۸
د ماخذونو لړلیک ............ ۲۰

# لنډیزونه

| | |
|---|---|
| CDE | د ټولنې د پرمختیا شورا |
| FAO | د خوړو او کرنې موسسه |
| FGD | متمرکز ډله ایز بحث |
| GDP | نا خالص محلي تولید |
| GOA | د افغانستان حکومت |
| IA | د اوبو لګولو اتحاد یه |
| IDI | ژوره مرکه |
| IRDP | د اوبو لګولو بیارغونه او پراختیایي پروګرام |
| IWRM | د اوبو د سرچینو بشپړ مدیریت |
| KU | د کابل پوهنتون |
| MAIL | د کرنې، اوبو لګولو او مالداري وزارت |
| MEW | د اوبو او انرژۍ وزارت |
| MoMP | د کانونو او پټرولیم وزارت |
| MoPH | د عامې روغتیا وزارت |
| MRRD | د کلیو د بیا جوړونې او پراختیا وزارت |
| MUDH | د کور جوړولو او ښاري پراختیا وزارت |
| NEPA | د چاپیریال ساتنې ملي اداره |
| PARBP | د پنج آمو د سیند د کاسې پروګرام |
| RBA | د سیند د کاسو اداره |
| RBC | د سیندونو د کاسو شورا |
| SCWAM | د اوبو د چارو او مدیریت عالي شورا |
| WB | نړیوال بانک |
| WUA | له اوبو څخه د ګټې اخیستونکو اتحاد یه |

# د مطلب لنډيز

## سريزه

افغانستان په **۲۰۰۹** کال کې **د اوبو د سرچينو د بشپړ مديريت** (IWRM) د اصولو پر بنسټ **د اوبو قانون** نافذ کړ او موخه يې د اوه چې کرنه د ملي اقتصاد په پرمختيا کې لا ډېره خوځوونکې ونډه واخلي. که څه هم نوموړی سکتور په پاينبت لرونکې پرمختيا کې ډېره ستره بالقوه ونډه لري، خو غښتلتوب يې تر ډېرې کچې د اوبو لګولو په هڅو او اغيزمنتوب پورې تړلی ده، چې د اوبو د لګښت **۹۰** سلنه جوړوي.

هغه سموني چې **د اوبو په قانون** کې راغلي دي د مرکز، سيند، او کوچني سيند د کاسو په کچه يې **د اوبو د سرچينو د بشپړ مديريت** (IWRM) د اصولو پر بنسټ نوي بنسټيز چوکاټونه (نوي بنسټيزې کړنلارې) او هڅوونکي کاري ميکانيزمونه را مينځ ته کړي دي. نوموړې سمونې د سيندونو او کوچنيو سيندونو د کاسو پر اساس د اوبو د مديريت پر بيا جوړونه باندې تمرکز لري. او سنی، ليکنه په کرهنيزو توليداتو باندې د سمونو اغېزه څېړي.

## ميتودولوژی (څېړندود)

دا ليکنه يوه کيفي تشريحي څېړنه ده چې موخه يې د کرنې په مولديت باندې د اوبو د سمونو د اغېزو ژوره پېژندنه ګڼل کېږي. ژورې مرکې او ډله ايز متمرکز بحثونه (FGDs) د مالوماتو د راټولولو د ميتودونو په توګه تر ګټې لاندې ونيول شول. دا څېړنه د دې لپاره طرحه شوې وه چې د ټولو پنځو سيندونو په کاسو کې پلې شي؛ خو د هلمند سيند د دې لپاره له نظره وغورځېد چې په هغه ځای کې هيڅ ډول سمونه تطبيق شوې نه وه، په هر صورت څېړنه د هريرود مرغاب، کابل، شمال او پنج- آمو په سيند کې ترسره شوه. د دې تر څنګ، ژورې مرکې (IDI) د اړوندو وزارتونو او ملي موسسو له استازو سره ترسره شوې.

## موندنې

کړنلاره د يوې ټوليزې او همغږې پروسې په څېر د سيند په مختلفو کاسو کې په ډېره کوچنۍ کچه پلې شوې وه. د تګلارو محدود اړخونه، لکه د ټولنې پر بنسټ د موسسو جوړښتونه، که څه هم ورو ورو، خو د بوديجې د شته والي او امنيتي حالت د ښه والي په شرايطو کې، پلي شوي دي. د دې تر څنګ، د سياسي ژمنو نه شتون د تګلارې د پلي کولو په لار کې خنډونه را مينځ ته کوي.

د کړنلارې په تطبيق او پلي کولو کې همغږي او بشپړوالي په هيڅ توګه شتون نه درلود. د اړوندو وزارتونو هڅې په بشپړه توګه له ګډوډۍ ځخه ډکې وې او د همغږي نه شتون د سمونو، پاليسي غوره کولو، پرېکړه کولو، پروژو/ پروګرامونو جوړولو، پلي کولو، او د مالوماتو شريکولو په ټولو اړخونو کې، د احساس وړ وو. د اوبو په سکتور کې د ډېر واک لپاره مبارزه (هلي ځلي)، د مرسته کوونکو او پيسو د لاس ته راوړلو لپاره سيالۍ، او له بوديجې ځخه د ګټې اخيستنې/ لګښت سياستونه په وزارتي کچه د همغږي د نه شتون عمده لاملونه وو.

د نوو جوړ شوو بنسټيزو جوړښتونو ترمينځ مرستې او همکارۍ، د اوبو لګولو د اتحاديو (IAs)، له اوبو ځخه د ګټې اخيستونکو اتحاديو (WUAs)، د سيندونو د کاسو لپاره ادارو (RBAs)، او داسې نورو کې، د عمودي کچې په پرتله په افقي کچه کې خورا ډېرې غښتلې وې. د اوبو لګولو د اتحاديو (IAs) او له اوبو ځخه د ګټې اخيستونکو اتحاديو (WUAs) ترمينځ ټينګې همکارۍ او اړيکو شتون درلود، په داسې حال کې چې د IAs، WUAs، RBAs او نورو لوړو ادارو ترمينځ عمودي ډوله همکارې کمزورې وه. افقي همکارې هم د موسسو ترمينځ او هم د موسسو ځخه بهر شتون درلود. پلې شوي تګلاره په ټولنه کې له اوبو ځخه د ګټه اخيستونکو ترمينځ د اوبو پرسر د شخړو په حل کولو کې اغېزمنه وګڼل شوه. IAs او WUAs د بزګرانو او له اوبو ځخه د ګټه اخيستونکو لپاره خورا مهمه کړنلاره وشمېرل شوه چې د هغوي ترمينځ اختلافات حل کړي. د شخړو د حل کړنلاره او بنسټيزو وسايلو ته لاس موندنه، د IAs د څارنې او ارزونې ونډې او د پرېکړو ميکانيزمونو درلودل، د شخړو د حل لپاره د سمونو د اغېزمنتوب درې عمده لاملونه وو.

پلي شوو سمونونو د ټولنې په معيار د کرنې مولديت اصلاح کړ او دا موضوع له اوبو ځخه د ګټه اخيستونکو او بزګرانو له خوا په لوړه کچه وستايل شوه. د کرنې ښه مولديت يا د اصلاح شوي زېربناء، د کانالونو د جوړولو او د دروازو د لګولو په شمول، يا د شخړو د حل کولو يا له شخړو ځخه د ډډه کولو په پايله کې را مينځ ته شوی وو. اصلاح شوې زير بناء د دې سبب شوه چې په کانالونو کې د کرهنې لپاره د اوبو بهير ښه والی ومومي، د اوبو ضايع کېدل او د اوبو غلا ډېره لږ شي، او د اوبو وېش په ښه توګه ترسره شي. په هرحال، د کرنې د مولديت ډېروالی بازار ته د لاسرسي د نه شتون په سبب د بزګرانو د عايد د ډېروالی په مانا نه ده.

## پايلې او وړانديزونه

**څېړنه وړانديز کوي چې بايد يوه تخنيک، بې پلوه، پياوړي شوي ډله په مرکزي کچه را مينځ ته شي چې دنده يې د کړنلارې عملي کول وي، د آجنډاء تطبيق بايد د اړوندو وزارتونو د مقاماتو له صلاحيت څخه وايستل شي، ترڅو د قدرت او صلاحيت لپاره د هغوی مبارزه بې پرې کړي.**

د اړونده وزارتونو صلاحيت بايد له سياسي اداري واحدونو څخه جلا او د بحث لاندې سيند طبيعي پولو ته د بيا ودانولو لپاره وسپارل شي. په اړونده ملي موسسو کې په ملي، محلي او د ټولنې په کچه د پلي شوو سمونونو د اغېزو منظمې ارزونې ته اړتيا ليدل کېږي. دا څېړنه په عين حال کې وړانديز کوي چې د سمونو په آجنډاء کې له بشپړ تطبيق څخه پخوا بايد هيڅ ډول تعديلونه را مينځ ته نه شي. څېړنه په همدې ډول وړانديز کوي چې د اوبو د سکتور د موسسو او په هيواد کې د امنيتي سکتور ترمينځ بايد يو ميکانيزم جوړ شی. دا اقدام د کرنې او اوبو په سکتورونو کې د امنيت د ټينګولو په مانا نه ده؛ بلکې د خوراکي توکو، اوبو، چاپيريال، ځانګړو افرادو او ټولنې د امنيت ترمينځ اړيکه ښيي

# ۱. مقدمه

افغانستان یوه کرهنیزه ټولنه ده او د ملي اقتصاد او ټولنیزې پرمختیایې موخې یې تر لوړې کچې په کرنې پورې تړاو لري[۱]. کرنه د ملت د کاري ځواک ۶۰ سلنه په کار ګوماري[۲]، او په کلیوالو سیموکي د مېشتو افغانانو د ۸۰ سلنې د معیشیت سرچینه جوړوي.[۳] په **۲۰۱۵** کال کې ، د کرهنیز سکتور نګه اضافي ارزښت [۴] د نا خالص محلي تولید ( GDP)[۵] **۲۳** سلنه جوړوله. نوموړې سلنه په **۲۰۱۰** او **۲۰۰۰** کلونو کې په ترتیب سره **۲۷** سلنه او **۳۸** سلنه وه. [۲]

په هر حال، کرنه باید خپله پراخه ناپیل شوي ورتیا وپېژني. د دې تر څنګ، کرنه په پراخه کچه د اوبو لګولو او د اوبو د سکتور په فعالیت او پایښت پورې تړلې ده. که څه هم اوبه لګول په هیواد کې د اوبو د مصرف **۹۵** سلنه جوړوي، خو د فعالو سیستمونو نه شتون د ببرته پاتې والي لامل را مینځ ته کړي او ټولنیز- اقتصادي وضعیت یې له ننګونې سره مخامخ کړي دی.

په دې اړیکو او د اوبو د سرچینو ( زېرمو ) د مدیریت لپاره د نوو او اغېزمنو دریځو نو د ضرورت په پوهېدلو سره، د افغانستان **حکومت** (GOA) په **۲۰۰۹** کال کې د **اوبو** د نوي **قانون** د تصویبولو له لارې سمونې را مینځ ته کړي. د نړیوال **طرزالعمل** په **تعقیبولو** سره ، د افغانستان حکومت، د اوبو د زېرمو بشپړ مدیریت (IWRM) ته د اوبو د سمونو په مرکز کې ځای ورکړ.

مختلف ( بیلا بیل) جوړښتي چوکاټونه او **فعال** میکانیزمونه په مرکزي، سیند او د سیند د فرعي کاسو په کچه سره راټول شول ترڅو د **اوبو د زېرمو د بشپړ مدیریت** له اصولو سره سم سمونې را مینځ ته کړي. په عمومي توګه د نوموړو اصولو موخه داده چې پایښت لرونکی پرمختګ تأمین ، او د اوبو له سرچینو ( زېرمو ) **څخه** په ټولنیز، اقتصادي او چاپېریالي موخو کې د ګټې پورته کولو نظارت په غاړه واخلي[۷].

په افغانستان کې د اوبو غټې زېرمې **هغه** سیندونه دي چې د غرونو له مختلفو سلسلو **څخه** سرچینه اخلي او د هیواد په درې برخو کې خپرېږئ. له دغو غرونو **څخه** ویلي شوي واوره د هیواد د تازه اوبو ۸۰ سلنه جوړوي. [۸] له **هغه** ځایه چې دا سیندونه د کرنې لپاره د ژوند حیثیت لري، نو د سمونو نوي تګلاره د اوبو د مدیریت په ټولو فعالیتونو او جوړښتونو باندې د سیند او فرعي سیندونو پر بنسټ چې د هغو طبیعي پولې جوړوي، تمرکز لري. په لا ځانګړي توګه ، د دغو بدلونونو هدف دا ده چې د سیندونو او کوچنیو سیندونو پر بنسټ ولاړه حکومتولۍ د ټولنیز، اقتصادي او چاپېریالي موخو لپاره په ملي کچه پایښت لرونکې ټولنیزه – اقتصادي پرمختیا را مینځ ته کړي[۹] . نوي آجنډا یو پاشل شوی او خورا متمرکز سکتور بشپړ او غیر متمرکز کړ او په دې توګه یې **هغه** ته لا ډېره پراختیا وبښله؟؟؟. د IWRM د اصولو عمده موخه دا ده چې د عامه خلکو په کچه د ستونزو د واقعي **حل** په لټه کې ده. لکه چې پخوا د اوبو د سکتور په ملي ستراتیژیو او د **اوبو په قانون** کې اشاره شوې ده، د IWRM اصول د دې لپاره **منل** شوي دي چې د اوبو **حکومتولۍ**، **تخصیص**، او **څارنه** د سیند او فرعي سیند په کاسه کې د **معیارونو** پر بنسټ ترسره شي.[۱۰] په همدې توګه ، **د اوبو د قانون** موخه د اوبو د زېرمو **ساتل**، د اوبو د عادلانه

۱ په افغانستان کې د نړیوال بانک ډله. په هیوادنۍ کچه نوي مالومات. نړیوال بانک. **۴۹** ۰ شمېره . د **۲۰۱۲** کال د اکتوبر میاشت.

۲ په افغانستان کې د نړیوال بانک ډله. په هیوادنۍ کچه نوي مالومات. نړیوال بانک. **۴۹** ۰ شمېره . د **۲۰۱۲** کال د اکتوبر میاشت .د افغانستان اسلامي جمهوریت. د کرنې او کلیو د پرمختیا سکتور. د پرمختیا ستراتېژي ۲۰۰۷/ ۲۰۰۸ – ۲۰۱۲ – ۲۰۱۳، د **۲۰۰۸** کال فبروري.

۳ د افغانستان اسلامي جمهوریت. د کرنې او کلیو د پرمختیا سکتور. د پرمختیا ستراتېژي ۲۰۰۷/ ۲۰۰۸ – ۲۰۱۲ – ۲۰۱۳، د **۲۰۰۸** کال فبروري.

۴ د نړیوال بانک پراساس ،« اضافي ارزښت» د ټولو محصولاتو جمع کولو او له هغو څخه د منځنیو سرچینو کمولو ته وایي او دا موضوع ( اضافي ارزښت ) پرته له دې چې له جوړې شوي شتمنې څخه استهلاک او یا طبیعي زېرمې لږ شي، محاسبه کېږي.

**۵** نړیوال بانک. د هیواد پېژند څېره: افغانستان. د نړۍ د پرمختیا د مالوماتو د شاخصونه، د مالوماتو زېرمه. http://databank.worldbank.org/tbar=y&dd=y&inf=n&zm=n&data/Views/Reports/ReportWidgetCustom.aspx?Report_Name=CountryProfile&Id=b۴۵۰fd۵۷&country=AFG

۲ نړیوال بانک. د هیواد پېژند څېره: افغانستان. د نړۍ د پرمختیا دمالوماتو شاخصونه ، د مالوماتو زېرمه. http://databank.worldbank.org/tbar=y&dd=y&inf=n&zm=n&data/Views/Reports/ReportWidgetCustom.aspx?Report_Name=CountryProfile&Id=b۴۵۰fd۵۷&country=AFG

۷ ANDS. د اوبو د سکتور ستراتېژي ۲۰۰۷ / ۲۰۰۸ دوهم ټوک، دربیم ستون، زېربناء ( لاندېنی جوړښت ) د **۲۰۰۸** کال فبروري، اتم مخ

۸ د اوبو قانون، رسمي جریده. د عدلیې وزارت، د افغانستان اسلامی جمهوریت. ۹۸۰ شمېره. د **۲۰۰۹** کال د اپرېل میاشت.

۹ د اوبو قانون، رسمي جریده، د عدلیې وزارت، د افغانستان اسلامی جمهوریت، ۹۸۰ شمېره ، د **۲۰۰۹** کال د اپرېل میاشت.

۱۰ ANDS(د افغانستان د ملي پرمختیا ستراتېژي). د اوبو د سکتور ستراتېژي ۲۰۰۷/ ۲۰۰۸ – ۲۰۱۲/ ۲۰۱۳. دوهم ټوک. دربیم رکن لاندنی جوړښت ( بنستیز

وېش تأمین او د ملي اقتصاد د ودې لپاره پایښت لرونکې ګټه اخیستنه، او له اوبو څخه د ګټه اخیستونکو د حقونو ساتنه ده.[۱۱] د اوبو د سمونو نوښتونه باید په بنسټیزه کچه د کرنې د مولدیت د اغېزو د تحلیل پر اساس، و ارزول شي. دې موخې ته د رسېدلو لپاره، باید لاندېنې پوښتنې ته ځواب ورکړل شي:

د اوبو د سکتور نوې سمونې د سیند په مختلفو کاسو کې د کرنې په مولدیت باندې څه ډول اغېزه کوي؟

د دې څېړنې موخه دا ده چې هغه بنسټیز چوکاټونه او میکانیزمونه و څېړي **چې د سیند او فرعي سیند د اوبو د وېش او تخصیص لپاره د اوبو** په قانون کې ځای لري او په کرنې باندې رېښنه ای اغېزه کوي.

دا څېړنه د تطبیق شو و سمونونو او بریالیتوبونو په هکله د اړوندو پالیسي جوړوونکو او کارکوونکو د چمتو کولو لپاره د پنځو سیندونو د کاسو په اړه بریالیتوبونه او ستونزې را برسېره کوي. له ۲۰۰۹ کال څخه راهیسې، د افغانستان حکومت په مختلفو سیمو کې د ډېرو سیندونو په کاسو کې د هیواد د کرنې د سکتور د بیارغونې لپاره د مختلفو بنسټیزو چوکاټونو او کاري میکانیزمونو د را مینځ ته کولو له لارې د سمونونو د تطبیق په بهیر کې ښکېل ( بوخت ) دی. دې څېړنې د اوبو په سکتور کې د سمونو د اغېزو ارزونه ترسره کړې ده.

په همدې ډول، دا څېړنه په ځانګړې توګه په لاندنیو ټکو تمرکز کوي:

- د کرنزو تولیداتو د لوړولو په اړه د پلي شوو سمونونو بریالیتوب، او
- د سمونو د تګلارې په تطبیق او پلي کولو کې ستونزې.

د پالیسي د لید پر اساس ، د اوبو په وېش کې برابروالی او برابر حقونه د ټولنیز – اقتصادي پرمختګ او ودې خورا مهم اړخ جوړ وي چې ډېره ستره برخه یې په کرنې پورې اړه لري. د څېړنې د پالیسي وړاندیزونه د اړوندو فعالینو او شریکانو د بریالیتوبونو او ستونزو پر بنسټ ولاړ دي او هغو ته انعکاس ورکوي.

د اوبو د سکتور د سمونونو په تطبیق کې د سیند د کاسو اداري (RBAs) د سیند د کاسو شوراګانې (RBCs) ، له اوبو څخه د ګټې اخیستونکو اتحاد یې (WUAs)، د اوبو لګولو اتحاد یې او غیر حکومتي اداري (NGOs) ، شاملې دي دا پایلې پالیسي جوړوونکو ته د سمونو د اجنډا/ د اوبو د قانون په اړه د اړینو مداخلو او تعدیلونو یو روښانه انځور وړاندې کوي.

## IWRM او په افغانستان کې د اوبو د سکتور سمونې

په ۲۰۰۹ کال کې، په افغانستان کې د **اوبو** لومړنی **قانون** تصویب شو. دا قانون په اووه څپرکو او ۴۰ مادو کې جوړ او په ۲۰۰۸ کال کې د پارلمان له خوا تصویب شو.[۱۲] د نوموړي قانون موخه په هیواد کې د اوبو د زېرمو خوندیتوب او له هغو څخه عادلانه، اغېزمنه او پایښت لرونکې ګټه اخیستنه ده. له دغه نوي قانون سره، افغانستان د هغو اکثریت هیوادونو له ټولنې سره یو ځای شو چې لا پخوا یې د IWRM اصول د اوبو د سکتور په خپلو پالیسیو او ستراتیژیو کې منلي وو.

په تیرو شوو څو لسیزو کې، د IWRM مفهوم په نړۍ کې د اوبو د وېش، حقونو او حکومتولۍ د ستونزو د اغېزمنې وسیلې په توګه خپور شوی دی. IWRM د لومړي ځل لپاره په ۱۹۷۷ کال کې د اوبو په اړه د **یونسکو** په **نړیوال کنفرانس** کې و پېژندل شو.[۱۳]

---

جوړښت) د ۲۰۰۸ کال فبروري.

۱۱ د اوبو قانون. رسمي جریده. د عدلیې وزارت. د افغانستان اسلامي جمهوریت. شمېره ( ګڼه ) ۹۸۰.# د ۲۰۰۹ کال د اپرېل ۲۲ مه. ( لومړی ماده ).

۱۲ د اوبو قانون. رسمی جریده .د عدلیې وزارت. د افغانستان اسلامی جمهوریت. ۹۸۰ ګڼه. د ۲۰۰۹ کال د اپرېل ۲۲ مه.

۱۳ جان هسینګ او نور د اوبو د زېرمو مدیریت (IWRM) په عمل کې. د ملګرو ملتونو له خوا د نړۍ د اوبو د ارزونې د پروګرامونو د بحث مقاله، ۲۰۰۹

IWRM، له هماغه وخت څخه د اوبو د زېرمو په مديريت کې يوې کلکې عقيده ته بدلون مونډلی دی. نوموړی اصول په ډېرو هيوادونو کې د اوبو د حکومتولۍ لارښوونه کوي؛ د ملګرو ملتونو د ۲۰۱۲ کال د اوبو د سروې پربنسټ د نړۍ د هيوادونو لوی اکثريت ( ۸۱ سلنه ) د اوبو داسې قوانين منلي دي چې د IWRM د اصولو له خوا يې لارښوونه کېږي[۱۴].

په ټوليزه توګه ، IWRM ته د يوې داسې پروسې په توګه کتل کېږي چې د اوبو ځمکې او اړوندو زېرمو همغږې وده او مديريت يې د داسې اقتصادي او ټولنيزې هوسا ينې لامل ګرځي چې په عادلانه توګه پرته له دې چې داسې او حياتي ايکو سيستمونو د پايښت په اړه روغه جوړه وکړي، د اقتصادي او ټولنيزې هوسا ينې لامل ګرځي.[۱۵] د عدالت او پايښت تر څنګ، IWRM د زېرمو د انډوليزې ساتنې لپاره، په داسې حال کې چې ټولنيزې او ايکو لوژيکې اړتيا وې پوره کوي او اقتصادي وده هڅوي، د بشپړ او همغږه شوي مديريت پر بنسټ ولاړ ده. [۱۲]

په دې ډول ويلی شو چې (IWRM) د اوبو د زېرمو مديريت غير متمرکز او مشارکتي بڼه لري، او د ګډې حکومتولۍ لپاره غږ پورته کوي. د ډول ډول دوديزو دريځونو د تحليل سبقونه وړانديز کوي چې د اوبو برخه شوی مديريت معاصرو اړتياوو او غوښتنو ته چې له اوبو څخه د ګټه اخيستونکو او چاپيريال له خوا راپور ته کېږي، ځواب ورکوونکی نه ده.

د سمونو د نوي آجنډاء له خپرېدلو څخه پخوا ، د افغانستان د پېړيو په بهير کې د اوبو دوديز مديريت څخه ګټه پورته کوله. په داسې حال کې چې دا ډول مديريت کولای شو د وګړو د نفوس د لړوالي په شرايطو کې چې غوښتنه ( تقاضا ) او د اقليم د بدلون اغېزې لږ وي، کار ورکړي، خو دوديز دريځو نه د متحرک کرهنيز سکتور د اړتياوو په پوره کولو کې پاتې راغی. په ۲۰۰۷ کال کې، د افغانستان د ملي ودې ستراتيژي (ANDS ) يو شمېر عمده ستونزې چې د اوبو په سکتور کې يې شتون درلود په ګوته کړې. نوموړې ډېرې ستونزې د مناسبو او کاري بنسټونو او بنسټيز ظرفيت د نه شتون، د مسئوليتونو د نا څرګندو تشريحاتو ، د اړوندو وزارتونو په مينځ کې د پروژو ويشل او په پاې کې مالوماتو لپاره د بنسټيزو جوړښتونو د نه شتون له امله وې.[۱۷]

د IWRM د وړانديزونو په تعقيب، ANDS هم د افغانستان د اوبو سکټور له تمرکز څخه د نه تمرکز خواته د عدليې او قضائي پولو د تشخيص کولو له لاري غير متمرکز جوړښت ته پاملرنه وکړه چې د سيند او کوچنيو سيندونو د کاسو له مفهوم سره مطابقت لري.

که څه هم افغانستان د سيند د کاسو د مديريت سيستمونه، په **۱۹۵۰** کلونو کې د هلمند – ارغنداب د وادي د اتحاديې[۱۸] له جوړولو سره سم، د کجکي په څو موخيزې پروژې کې رامينځ ته کړل، خو د سمونو نوي آجنډا لومړني اقدام دي چې د سيند په ټولو کاسو کې بايد عملي شي.

په مرکزي کچه، مختلفو اړوندو وزارتونو ته ډول ډول مسئوليتونه ورسپارل شوي دي. په ټوليزه توګه، اوه وزارتونه او ملي مؤسسې، د انرژی او اوبو وزارت (MEW)، د کرنې، اوبو لګولو او مالداری وزارت (MOMP)، د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت (MRRD)، د ښاري پراختيا او کور جوړونې وزارت (MUDH)، د کانونو او پټروليم وزارت (MOMP)، د عامې روغتيا وزارت (MOPH)، او د چاپيريال ساتنې د ملي اداري (NEPA) په شمول د اوبو په سکتور کې مستقيم مديريت لري[۱۹]. ددې ترڅنګ، د اوبو د چارو د اداري عالي شورا (SCWAM)، چې په **۲۰۰۵** کال کې رامينځ ته شوي ده، د مرکزي همغږۍ د مکانيزم په توګه ونډه لري. د SCWAM ځانګړې دندې په اوبو پورې د تړلو کارونو ترمينځ د همغږې را مينځ ته کول دي. په دې کارونو کې د ملي ادارو دندې، د کابينې د تائيد لپاره د پرمختيائي پلانونو او استراتيژيو وړاندې کول، د تائيد لپاره د تسويد شوو قوانينو/ مقرراتو وړانديزونه، د اړوندو وزارتونو د پلانونو د تطبيق څارنه، د وزارتونو ترمينځ په اوبو پورې تړلو شخړو حل، د اړوندو وزارتونو او ادارو له خوا د **اوبو د قانون** عملي کول، شامل دي. د SCWAM اداره اوس **د ځمکو او اوبو عالي شورا** (SCOLW)په نوم يادېږي.

---

۱۴ جان چرنيت. « د اوبو د زېرمو د مديريت » پيدا ليښت او پراختيا ته يوه کتنه. د EASA پيښل کنفرانس، نانستيری، د ۲۰۱۲ کال د جولای ۱۰

۱۵ هال ای. کار د ديل او نور. د اوبو د زېرمو مديريت: تعريفونه او مفهومي Musings . د اوبو معاصرې څېړنې او زده کړې ژورنال. **۱۳۵** مه شمېره، ۸- ۱۸ مخونه، ۲۰۰۲

۱۲ او دندال، P.E.، د اوبو د زېرمو مديريت (IWRM )، د پاليښت لرونکو ښاري اوبو مديريت. په جنوبي افريقا کې د چاپېريال مديريت (CEMSA ) ۲۰۰۲، جوهانسبورګ، جنوبی افريقا.

۱۷ ANDS. د اوبو د سکتور ستراتژي ۲۰۰۷ / ۲۰۰۸ – ۲۰۱۲ / ۲۰۱۳. دوهم ټوک. د زير بناء دريم ستون. د ۲۰۰۸ کال فبروري.

۱۸ کولاتر نک Damming Afghanistan: په يوه حائل دولت کې عصري کول. د امريکي د تاريخ ژورنال ۸۹ (۲): **۵۱۲- ۵۳۷**. doi:۳۰۹۲۱۷۱/۱۰,۲۳۰۷

۱۹ د اوبو قانون .رسمي جريده. د عدليې وزارت. د افغانستان اسلامي جمهوريت. ۹۸۰# شميره د ۲۰۰۹ کال د اپريل ۲۲ مه

# ۲. متودولوژي څېړندود

دې څېړنې له يوه کيفي دريځ څخه ګټه اخيستې ده ترڅو د اوبو د سکتور د سمونو د اغېزو د پوهېدلو لپاره بډايه مالومات او پراخ توضيحات وړاندې کړي. تشريح په ټولنيزو شرايطو کې خورا ډېر اړوند بريښي، ځکه په دغو شرايطو کې کميتي مالومات شتون نه لري برسېره پر دې، کيفي توضيحات په دې څېړنه کې ډېر اړوند بريښېدل، ځکه چې سمونې په کوچنيو جغرافيائي سيمو کې د هر سيند په کاسو کې تطبيق شوي دي. له همدې امله، داخبره عملي نه وه چې په ملي او محلي کچه يا د سيند د غاړو په کچه ټولنيز مالومات توليد شي. د کيفي توضيحاتو د غوره کولو په ميتود کې، د پاملرنې وړ موخه داده چې له محلي فعالينو او د ټولنې پربنسټ ولاړو ادارو سره وګورې چې د نوو سمونو په آجنډاء کې را مينځ ته شوي او پيژندل شوي دي.

د عمده موضوعاتي سيمو لپاره ژوري مرکې (IDIs) له پرانيستو پوښتنو او چک ليستونو سره ،او همدا ډول متمرکزې ډله ايزي خبرې اترې (FGDs)، له اړوندو شريکانو سره ترسره شوې. د احتمالي آزمايښت عمده او کليدی سيمې د هرې پرانيزي مرکې د پوښتنو له لپارې وپيژندل شوې. دا څېړنه په اصل کې ددې لپاره طرحه شوې وه چې د ټولو پنځو سيندونو په کاسو کې ترسره شي. خو په هر صورت، د مالوماتو د راټولولو په بهير کې د هلمند د سيند غاړې ددې لپاره له لړليک څخه وايستل شوې چې هلته د اوبو د سکتور هيڅ ډول سمونې د امنيتي حالت له امله عملي شوې نه وې. د لاندې څلورو سيندونو کاسې تر څېړنې او مطالعې لاندې ونيول شوې: د هريرود مرغاب، کابل، شمال، او پنج–آمو برسېره پردې، ژورې مرکې د اړوندو وزارتونو او ملي ادارو له استازو سره ترسره شوې. په ټوليزه توګه، اړونده ملي ادارې او د سيند د کاسو محلي موسسې د څېړنې د بيلګو په څېر ترګټيې لاندې ونيول شوې. په ملي ادارو کې لاندې ادارې شاملې وې: MEW، MAIL، MRRD ، او د کابل پوهنتون، برسېره پردې، د سيند د کاسو اداری دادې: WUAs، RBCs، RBAs، او IAs. د **خوړو او کرنې موسسه** (FAO) هم د کرنې او اوبو لګولو په سکتورونو کې د خپل تاريخ او ښکلتيا پراساس، هم په څېړنې کې ونډه درلوده. د څېړنې ځواب ورکوونکي په مرکزي او محلي کچه د پورته نوموړو شريکانو استازي او غړي وو. دوه متمرکزې ډله ييزې خبرې اترې (FGDs) او دوه ژورې مرکې د سيند په هره کاسه کې ترسره شوې. په توليزه توګه اوه ډله ايزې خبرې اترې (FGD) اونهه ژورې مرکې د څلورو غوره شوو سيندونو د کاسو په اړه ترسره شوې دي. برسېره پردې، نهه ژورې مرکې د اړونده وزارتونو له لوړپوړو چارواکو سره وشوې. په محلي ژبو مرکې ، چې ډېرې ئې په دري ژبه وې ترسره شوې او وروسته د تحليل او ارزونې لپاره په انګريزي ژبه وژباړل شوې. موضوعي تحليل د مالوماتو د تحليل د ميتود په څېر بشپړ شو. په ټوليز ډول شپږ موضوعي سيمې تشخيص شوې او له هرې سيمې څخه لاس ته راغلي مالومات تر تحليل لاندې ونيول شول. عمده موضوعي سيمې دادې:

۱. د سمونې د کړنلارې پلي کول

۲. په مرکزي کچه همغږي

۳. بنسټيزه مرسته

۴. کرنيز مولديت

۵. د سمونې په کړنلاره او د شخړوحل

٦. د سمونې په کړنلاره کې د اوبو شراکت

# ۳. موندنې

**۱. د سمونو د کړنلارې پلی کول: د اوبو د قانون** له تصویب څخه نږدې اوه کالونه تېرېږي. په هر حال د سمونو کړنلاره په برخه ایزه توګه ډېره لږ پلي شوي ده. خو د اوبو د زېرمو په مدیریت کې د ټولیزې او یوبل سره ترلې پروسې ( بهیر ) په څېر لا تر اوسه د کاغذونو او پاتو پرمخ پاتې دي. په مالي منابعو پورې د بسپینه ورکوونکو لخوا د تلړتوب او غوره والي له کبله، او همدا ډول د امنیتي وضعیت له امله، له ۲۰۱۴ کال څخه راهیسې د نوموړې پروسې یوازې ځېنې اړخونه او په عمده توګه د ټولنې پر بنسټ ولاړو ادارو جوړول، د سیند د کاسو په مختلفو برخو کې په محدوده کچه عملي شوي دي. په پای کې، په مرکزی کچه مصلحتی سیاسي ژمنې د سمونې د کړنلارې د نه عملي کېدو او نه بریالیتوبونو دربیم لامل شمېرل کېږي.

باید وویل شي چې د اوبو IWRM ډوله حکومتولی ځینې تخنیکی ستونزې لري. داسې برېښی چې په نړۍ کې د لیکنو د چټک وېش او خپریدنې پر خلاف، د IWRM پلی کول ستونزمن ښکاري او اوږده موده نیسي. د موضوع د انعطاف قابلیت او د پلې کېدلو لپاره د مشخصو لارښوونو نه شتون ته په کتنې سره، اوس هم د IWRM د عملي ارزښت په اړه ډېر بحثونه شتون لري.[۲۰]

د MEW د یو لوړ پوړي چارواکی له خوا لاندېنی خبرې د کړنلارې د اوسنیو پلي کولو په هکله یو بشپړ انځور وړاندې کوي.

> « تګلاره یوازې په یو شمېر محدودو ټولنو لکه هریرود مرغاب، پنج آمو، شمال، او د کابل د سیندونو په کاسو کې په نسبي توګه عملي شوي ده. نوموړي تګلاره لا تر اوسه د هلمند په حوزه کې تطبیق شوي نه ده. یوازنی RBC او RBA په پنج آمو کې را مینځ ته شوی دي. په شمال حوزه کې یو څو WUAs د MEW له خوا تاسېس شوي دي ،او زه ګومان کوم چې MAIL ځینې IAs لري. د هریرود مرغاب په حوزه کې، MEW او MAIL ځینې IAs را مینځ ته کړي دي. MEW د دې توان پیدا نه کړ چې د کابل په حوزه کې WUAs تأسیس کړي. »[۲۱]

له ۲۰۱۰ کال څخه را په دې خوا ، MAIL په ټولیزه توګه ۳۵۰ ، IAs د څلورو سیندونو په غاړه کې جوړ کړل. دغه سیندونه له کابل، شمال، پنج آمو، او هریرود مرغاب څخه عبارت دي.[۲۲]

د دې لپاره چې موضوع په متن کې راشي، MAIL، د سمولو تر آجنډا لاندې، باید په ټول هیواد کې ۳۰۰۰۰ IAs جوړ کړي. په شپږو کلونو کې د ۳۵۰ IAs جوړول څرګندوي چې د سمونو تطبیق خورا پڅ وو. د تطبیق ستونزمن حالت د وزارتونو په کچه د پالیسي جوړوونکو او عملي کوونکو له خوا منل شوی دی. داسې مالومېږي چې د ۲۰۱۹ کال تر پایه پورې د ټولو اتحادیو بشپړول نه شوی ده.[۲۳] لکه چې وویل شو ، د امنیت نه شتون یو عمده خنډ دی چې د سمونو مخه نیسي.

**د پنج آمو د سیند کاسه: له ډېر تمرکز څخه د نه تمرکز خواته**

د پنج آمو د سیند کاسه په افغانستان کې د تطبیق او آزماینبت لپاره یوه ازمایښتي پروژه ده. په ۲۰۰۴ کال کې، عملي کار، د بنسټیز جوړښت د جوړولو په شمول، پیل شو. د تشکیلاتی جوړښتي پرمختګ یا پرمختیا (د WUAs او IAs جوړول) په ۲۰۰۷ کال کې پیل شو او په WUAs پوری تړلی لومړنی IWRM کندز، تخار او بغلان ولایتونو کې د پنج آمو د سیند د کاسو تر پروګرام (PARBP) لاندې تأسیس شول. وروسته، نور WUAs د بدخشان، تخار، بامیان او بغلان په ولایتونو کې جوړ شول. له ۲۰۰۷ کال څخه تر ۲۰۱۴ کال پوری، له ۹۱ څخه ډېر WUAs را مینځ ته شول. په هر صورت، له ۲۰۱۴ کال څخه را هیسې په سیمه کې د مخ په خرابېدلو امنیتي حالت سره یو ځای، په عمده توګه د کندز په ولایت کې، په IWRM پورې تړلی فعالیتونه نه یوازې وځنډول شو ، بلکې جوړ شوي سازمانونه هم نږدې له کار څخه ولویدل. دې څېړنې څرګنده کړه چې د جوړ شوو WUAs او سنی غړي او استازي د طالبانو له خوا د ترهګریزو کړنو له کبله خپل هویت پټوي. دا موضوع هومره جدي وه چې د دې څېړنې لپاره د با القوه ځواب ورکوونکو پیدا کول ډېر ستونزمن کار وو. د WUA غړي ډېر خپه او ناهیلې دي. تر ټولو تریخ حقیقت دا دی چې ډېرو د WUAs خپل تجهیزات او وسایل په ۲۰۱۵ کال کې د کندز په سقوط کې د چور او تالان په نتیجه کې له لاسه ورکړل. داسې مالومېږي چې که چیرې حکومت لازم اقدامات ونه کړي نو جوړ شوی WUAs به له مینځه ولاړ شي او ټولې لاس ته را وړنې به په سیند کې لاهو شي.

---

۲۰ جان چرلت. د « اوبو د زېرمو د مدیریت » د رامینځ ته کېدو او پراخېدلو تعقیب کول. د EASA بنسیل دولسم کنفرانس، نانستیري، د ۲۰۱۳ کال د جولای ۱۰-۱۳، ناخپورشوي سند

۲۱ ۳ نمبر مصاحبه ، د ۲۰۱۷ د مارچ ۸ مه

۲۲ ۱۱ نمبر مصاحبه، د ۲۰۱۷ کال د مارچ ۱۴ مه

۲۳ ۱۱ نمبر مصاحبه، د ۲۰۱۷ کال د مارچ ۱۴ مه

په عمومي توګه، په افغانستان کې د **اوبو د قانون** پلي کول ستونزمن کار ده او نا امنی پر کړنلارې باندې د لید وړ بده اغېزه لري. د فارياب په ولايت کې موږ اړتيا درلوده چې د اوبو يو لوی نل جوړ کړو، خو د نا امنۍ له امله موږ ونه شو کولای چې هلته لاړ شو او سيمه سروې کړو [24] د هلمند د سيند کاسه غاړه د دغو نا امنيو له امله ډېره اغېزمنه شوي ده. د ويجاړ امنيتي وضعيت له امله په سيمه کې د سمونو په اړه کوم کار پلی شوي نه ده. مونږ د دې توان پيدا نه کړ چې په هلمند کې د اتحاديو جوړول پيل کړو او له بده مرغه هيڅ مرسته کوونکی نه غوښتل چې د سيند د کاسې لپاره د بوديجې تخصيص په غاړه واخلي [25] برسېره پر دې، په لرې پرتو ولسواليو کې نا امنيو د نوو سمونو په تطبيق باندې او همدا ډول د تطبيق شوو سمونو په پايښت باندې مستقيمه اغېزه درلوده.

په دې توګه، موږ نشو کولای په اوسني حالت کې د ټولنې پربنسټ ولاړې اتحاد يې جوړې کړو يا په لرې پرتو سيمو کې د اتحاديو د کار او فعاليت څار ترسره کړو.[26]

دغه حقيقت چې د يوه سيند په غاړو کې امنيتي حالت له يوبل سره توپير درلود نه يوازې د تګلارې پلی کول محدود کړل، بلکې په خوندي سيمو کې يې د سمونو پايلې هم له ستونزو سره مخامخ کړې. د **هريرود مرغاب سيند** په کاسه کې، سمونې په ښکته ځاينو لکه د **انجيل، ګذرې او زنده جان** په ولسواليو کې، چيرې چې امنيت وجود درلود، پلې شوي دي، په داسې حال کې چې سرچينې ځيرمو ولسواليو لکه **چشت، اوبی او پشتون زرغون** کې سمونې د نا امنيو له امله لا تر اوسه پيل شوي هم نه دي.

دې خبرې د کرنې په مولديت کې د ښه والی مخه نيولې ده، ځکه چې د سرچينو په نا امنه سيمو کې کوم بدلون را مينځ ته شوی نه ده.

د يوه سيند په کاسه کې د امنيتي حالت توپيرونه د تګلارې په پلي کولو کې نا انډوليز حالت را مينځ ته کوي. د بېلګې په توګه، د هريرود مرغاب په کاسه کې په ټوليز ډول ۸۰ IAs جوړ شوي دي. دا ټول د هرات، بادغيس او غور د ولايتونو په خوندي ولسواليو کې را مينځ ته شوي دي. د فراه په ولايت او ياد شوو درې ولايتونو په نا امنه ولسواليو کې هيڅ IAs تأسيس شوي نه دي. په ټوليزه توګه، د هرات، غور، بادغيس او فراه په نا امنه ولسواليو کې د امن نه شتون د IAs د نه جوړېدو عمده لامل ګڼل کېږي.[27] په مرکز کې د سمونو په اړه د سياسي ژمنتيا نه شتون يوبل عمده لامل دې چې د تګلارې پلي کيدل له ستونزو سره مخامخ کوي. IWRM د سمونو او همغږي او همدا ډول د ادارو او سکتورونو په مديريت کې د خورا قوي سياسي ژمنو غوښتنه کوي.[28] د سياسي مصلحتي ژمنو د هوکړه ليک روښانه څرګندونه د سکتورونو/وزارتونو ترمينځ د همغږي نشتوالی ښيي. د همغږۍ د نشتوالي تر څنګ، د وزارتونو په کچه RBAs ته د واک او صلاحيت نه ورکول د سياسي ژمنو د نشتوالي بله څرګندونه وه. د RBAs د جوړولو موخه د اوبو د زېرمو پلان جوړونه، د چاپيريال ساتنه، د اوبو مساوي وېش، او په اوبو پورې نورو اړوندو موضوعاتو تنظيم او پرمختيا وه.[29] د دې خبرې مانا داده چې د اوبو د سکتور په اړه د اړونده وزارتونو او په عمده توګه د انرژۍ او اوبو وزارت، د کرنې، اوبو لګولو او مالداري وزارت او د کليو د بيا روغونې او پراختيا وزارت ډېر ځانګړي صلاحيتونه او مسؤوليتونه به RBAs ته انتقال شي.

د RBAs نشتوالی هغه لامل دی چې د اوبو په سکتور کې ټولې مداخلې لنډ مهالي، نا همغږي، وېشل شوي او په ځينې مواردو کې تکراري بڼې لري. د RBA پلانونه له دې سره چې د سمونو د اجنډا له پيل کولو څخه راهيسې ډېر کالونه تير شوي دي، بشپړ شوي نه دي.

**۲. په مرکزي کچه همغږي:** داسې مالومه شوه چې د اړونده وزارتونو تر مينځ هم په مرکزي کچه د پاليسي په اړه او هم په ساحه کې شتون نه لري. په هر اړوند وزارت کې د لوړپوړو چارواکو له خوا د همغږې د نه شتون له امله نور وزارتونه تومتي کېدل. د اوبو او انرژۍ د وزارت استازو د بوديجې د محدوديتونو تر څنګ ادعا کوله چې د اړوندو وزارتونو تر مينځ د همغږې نه شتون په ساحه کې د سمونو د اجنډا د محدود او ورو پلي کېدو عمده لامل شمېرل کېږي. [30]په تيوريک لحاظ د IWRM موخه د هغو ستونزو حل کول دي چې د نيمګړو پلان

۲۴ ۱۵ نمبر مصاحبه، د ۲۰۱۷ کال د اپرېل ۱۱ مه

۲۵ ۱۱ نمبر مصاحبه ،د ۲۰۱۷ کال د مارچ ۱۴ مه

۲۶ ۲۳ نمبر مصاحبه د ۲۰۱۷ کال د اپرېل ۲۹ مه

۲۷ د هريرود مرغاب د سيند له ډنډ څخه ساحو ی کتنه

۲۸ ويتسک مديمه، بران مکنيتانش، پاول جفري. له بنسټ څخه تر عمل پورې؟؟ from promise to fraction (له ژمنې څخه تر عمل پورې): د اوبو د زېر مو همغږی مديريت او د اوبو په سکتور کې تطبيق ( عملی ) مديريت. ايکولوژی او ټولنه ۱۳ (۲): ۲۹. ( آنلاين ) /http://www.ecologyandsociety.org vol۱۳/iss۲/art۲۹ ۱۳ م ټوک/ ۲مه شمېره / ۲۹ مه ماده.

۲۹ د اوبو قانون. رسمي جريده. د عدليي وزارت. د افغانستان اسلامی جمهوريت. ۹۸۰# شمېره، د ۲۰۰۹ کال د اپرېل ۲۲ مه. ( ۱۲ مه ماده )

۳۰ ۴ نمبر مصاحبه، د ۲۰۱۷ کال د مارچ اتمه.

جوړولو او نا اړوندو پروسو د پایلو په توګه را مینځ ته کېږي. په دې بهیر کې ډېرې ادارې او شریکان ښکېل دي چې په سکتورونو کې دندې ترسره کوي.[۳۱] په هر حال، **هغه څه چې** په افغانستان کې د IWRM د سمون په تګلاره کې پیدا او ولیدل شول، په عمده توګه په مرکز کې د پلانونو بشپړتیت والی او شلېدلي بهیرونه وو. داسې برېښي چې د همغږۍ نه شتون د پرېکړو په کولو او تطبیق کې د ډېر صلاحیت/ واک او ډېره **تمویل** (د ډېرو پیسو) د لاس ته راوړلو لپاره د مبارزې او هلو ځلو پایله ده. هر وزارت **هڅه کوي چې** ترټولو ډېر مرستندویان ولري او په دې ډول ځرګنده کړي چې نور یوازې په څو هڅو کې ښکېل دي، په داسې حال کې چې د دوی وزارت په ډېرو هڅو کې بوخت دي.[۳۲] د واک لپاره په مرکز کې د اړوندو وزارتونو ترمینځ شخړې د سمونو د اجنډا په تطبیق باندې بده اغېزه کوي. د IWRM د تګلارې په پلی کولو کې د نظر یووالی خورا ډېر اهمیت لري. د مختلفو سکتورونو او کچو ترمنځ افقي او عمودي پخلاینې ته د رسیدو لپاره، IWRM **د هیبرماسین د** مفاهمې د ځینو بڼو لکه فعالینوته لاسرسي، د رایو د اتفاق له لارې د ستونزو پوهیدنه او اړوند اقداماتو **په معقولیت** باندې حساب کوي[۳۳].

هر اړوند وزارت لکه د انرژۍ او اوبو وزارت (MEW)، د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت (MRRD) او د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت (MAIL)، په ځانګړې او خپلواکه توګه د ټولنې پربنسټ دداسې ادارو په جوړولو او ملاتړ باندې تمرکز لري چې د هغوی دنده شمیرل کیږي. د انرژۍ او اوبو وزارت وایي چې د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت د ټولنې پربنسټ له اوبو څخه د ګټې اخیستونکو ادارو یا WUAs د ایجاد او جوړولو په اړتیا نه پوهیږي. له بلې خوا، د کلیو د پراختیا او بیارغونې وزارت (MRRD) استدلال کوي چې د **ټولنې د ودې د شورا ګانو** (CDCs) په شتون کې د WUAs جوړول ضروري نه برېښي او دا ډول اقدام تشکیلاتي تورم (انفلاسیون) شمیرل کیږي. په همدې ډول، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت (MAIL) په خپلواکه توګه، پرته له دې چې خپلې هڅې د انرژۍ اوبو له وزارت (MEW) سره همغږې کړي، د IAs پرجوړولو تمرکز لري.

> «موږ د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ (MAIL) او د کلیو د بیارغونې او پراختیا له وزارت (MRRD) سره د همکارۍ د نه شتون له امله له ډېرو ستونزوسره مخامخ یو. د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت (MRRD) ویل چې CDCs لا پخوا جوړشوي او د WUAs درلودلو ته اړتیا نشته، په داسې حال کې چې د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت (MAIL) د IAs په جوړولو باندې ټینګار کاوه. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ، او د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارتونه له موږسره د خپلو پروژو د پلانونو له شریکولو سره لېوالتیا نلري. د سیند په کاسه او کانالونو کې د اوبو د ګټور مدیریت لپاره، هیڅ مینه نه لرله»[۳۴]

۳۱ ویستک مدیمه، براین میکانتوس، پاول **جعفری**. له ژمنې څخه تر عمل پورې: د اوبو د زېرمو بشپړ مدیریت او د اوبو په سکتور کې د عملی مدیریت یوه انتقادي ارزونه. ایکولوژي او ټولنه ۱۳ (۲): ۲۹ (آنلاین) art۲۹/iss۲/URL: http://www.ecologyandsociety.org/vol۱۳.

۳۲ ۳ نمبر مصاحبه، د ۲۰۱۷ د مارچ اتمه

۳۳ سارا وانان او نور. د **اوبو د زیرمو بشپړ مدیریت ته انتقادي بیا کتنه:** له مرکزي بحث څخه بهر تلل. د طبیعي زیرمو مجتمع (ټولنه) ۳۳ (۲۰۰۹) ۷۲- ۸۲

۳۴ ۴ نمبر مصاحبه د ۲۰۱۷ د مارچ اتمه.

د انرژۍ او اوبو وزارت د CDCs او IAs جوړښتونه د WUAs او RBCs تکرار ګڼي، او ادعا کوي چې د ټولنې پربنسټ ولاړ دا جوړښتونه د اوبو په سکتورکې د پروژو جوړول او پلی کولو پرته له دې چې د انرژۍ او اوبو د وزارت له هغو ادارو سره چې د ټولنې او اوبو پر بنسټ ولاړې دي، **همغږي** کړي ،ترسره کوي. د مرسته کوونکو او بودیجې د لاس ته راوړلو پرسرسیالۍ هم د فعالیتونو تکرار رامینځ ته کوي. د بیلګې په توګه د انرژۍ اوبو وزارت د اوبو لګولو د **بیا رغونې او پراختیا پروګرام**(ZRDP) پروژه په غاړه ونیوله، په داسې حال کې چې د **کرنې، اوبو لګولو اومالدارۍ وزارت** د اوبو داسې مدیریت عملي کوي چې له ورته مرسته کوونکې اداري څخه ئې د اوبو لګولو د پروژې په څېرلاس ته راوړي ده. CEBALE د اوبو لګولو دریمه پروژه ده چې د MRRD له خوا تطبیقیږي.

برسیره پردې د ډیر واک او صلاحیت د لاس ته راوړلو لپاره هلې ځلې، د بودجې د کارولو/ لګښت سیاست د اړوندو وزارتونو ترمنځ د همغږۍ په نه شتون کې ونډه اخیستې ده. د بیلګې په څیر، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت ( MAIL) ډیر دریمه درجه کانالونه او کوچنې بندونه، جوړکړي دي، پرته له دې چې خپل دا ډول فعالیتونه د انرژۍ او اوبو له وزارت (MEW) سره چې د عمده کانالونو د جوړولو مسئولیت په غاړه لري، همغږي کړي. د فعالو اصلي کانالونو په نشتوالي کې، دریمه درجه کانالونه د کرنې په وده کې کومه ونډه درلودلای نشي. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت د ودانیو پروژې په همدې توګه له اړوندو وزارتونو سره همغږه شوي نه دي، او د لګښت د اغیزمنتوب د لید له پلوه، له بودجې څخه ناوړه ګټه اخیستنه شمیرل کیږي[۳۵]. په هر صورت، له سیاسي پلوه د کلیود بیارغونې او پراختیا وزارت (MRRD) یا هر بل اړوند وزارت لپاره، د اندیښنې وړتکي له بودجې څخه ناوړه ګټه اخیستنه نه، بلکې له بودجې څخه لږ ګټه اخیستنه ده. د وزارتونو اصلي موخه داده چې د مالي کال په پای کې د بودجې لوړ لګښت وښیي، ځکه چې پارلمان هغه وزیران تر پوښتنې لاندې نیسي چې بودجه ئې لږ مصرف کړي وي. ځکه چې د وزارتونو ترمینځ همغږي وخت ته اړتیا لري، اړوند وزارتونه غوره ګڼي چې شته بودجه ددې پرځای چې په همغږه توګه مصرف کړي، د هغې لګښت په لنډ مهال کې ترسره کړي. په افغانستان کې، پرته له دې چې د پروژو د اغیزو په اړه فکر وشي، وزارتونه یوازې د خپلو بودجو د لګښت په کچه ارزول کیږي. [۳۶]

په داسې حال کې چې د **اوبو** نوي **قانون** د برېښنا او اوبو وزارت (MEW) ته د اوبو په سکتور کې په پالیسي او تطبیق پورې اړونده دنده سپارلې ده، دې څېړنې څرګنده کړه چې د درې اړونده وزارتونو لکه د بریښنا او اوبو وزارت (MEW)، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت (MAIL) او د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت (MRRD) ترمینځ، د بریښنا او اوبو وزارت (MEW) نور دوه وزارتونه د اوبو د سکتور د پروژو په جوړولو او تطبیق کې د خپلو دندو په نه اجراء کولو تومتي کوي. د همغږۍ نشتون د سمونې د اجندا په وړاندې جدي ستونزه ده او یو تخنیکي لامل لري چې د یادونې وړ بریښي. د تیرې شوې یوې نیمې لسیزې په موده کې د بریښنا او اوبو وزارت (MEW) تل دشته سیاسي جوړښتونو ترمینځ د ځواک د مبارزې په مرکز کې د یوې سیاسي ادارې په توګه، پاتې شوی دی. ددې مودې په ډیرو کلونو کې، د MEW مشرتوب په لوړه کچه سیاسي ماهیت درلود چې په ظاهر کې ئې د کار کوونکو د تخنیکي ظرفیت لوړولو او د بسپنه ورکوونکو موسسو( ټولنو ) جذب ته پاملرنه درلوده.

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ (MAIL) او د کلیو د بیارغونې او پراختیا (MRRD) وزارتونه، د هیواد په پرمختیا کې د دوی د اهمیت وړ تصور شوي ونډې ته په کتنې سره، د اوږدو کلونو په لړکې د بسپنه ورکوونکو پاملرنه د ځان خواته را اړولې وه. دې خبرې دواړو وزارتونو ته دا توان ورکړ چې د تخنیکي ظرفیت جوړونې او د مرستندویه ټولنو دمالي مرستو د لاس ته راوړلو وسیلې یه لاس کې ولري.

اوس مهال، د MAIL او MRRD په پرتله، MEW د مختلفو پروژو لپاره د پیسو په لاس ته راوړلو کې بریالی نه ده. دا موضوع ددې لامل شوه چې نوموړي وزارت د سمونو د اجندا په عملي کولو او په دې توګه په اوبو او اوبولګولو پورې اړوندو هڅو کې بېرته پاته شي. په افغانستان کې وضعیت دا ډول دی چې هغه ادارې چې کولای شي له مرستندویانو سره خبرې وکړې ډیرې پیسې او پروژې ترلاسه کوي. MEW نشي کولای پروژې لاسته راوړي ځکه چې، د MAIL او MRRD په پرتله له بسپنه ورکوونکو سره د خبرو تخنیکي وړتیا نه لري.[۳۷]

۳۵ ۳ نمبر مصاحبه ، د ۲۰۱۷ کال د مارچ اتمه.

۳۶ ۷ نمبر مصاحبه د ۲۰۱۷ کال د مارچ ۲۰ مه.

۳۷ ۱۰ نمبر مصاحبه د ۲۰۱۷ کال د مارچ ۳۰ مه

د درې واړه وزارتونو (MEW، MAIL او MRRD) په کتار کې هر وزارت هڅه کوي چې د اوبو د سکتور په ټولو برخو کې خپله ځانګړې امپراطوري جوړه کړي، پرته له دې چې سوچ وکړي چې دا موضوع، په داسې حال کې چې مدیریت ئې نشي کولای، نه شونې برېښي.

۷ نمبر مصاحبه

نتیجه دا چې د اړونده وزارتونو ترمینځ د همغږۍ نه شتون، په ساحه کې د تګلارې په پلي کېدلو باندې بده اغیزه کړې ده. د بیلګې په توګه، عمده کانالونه د **اوبو او برېښنا** د وزارت په کاري ساحه کې شامل دي، په داسې حال کې چې **د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت** د دریمې درجې کانالونو د ودانولو او بیارغونې مسئولیت په غاړه لري. « ددې پرځاي چې بودجه په عمده کانالونو او ورخونو باندې مصرف شي، د پیسو لګښت په کوچنیو کانالونو باندې کیږي. په دې توګه، که چیرې په غټو کانالونو کې ورخونه شتون ونه لري، نو په دریمه درجه کانال کې اوبه له کومه کیږي؟» د همغږۍ د نشتون بله بیلګه د **سلما بند** ده، چې جوړول ئې د اوبو او برښنا وزارت دنده وه، ځکه چې د برښنا یوه ملي پروژه شمیرل کیږي. په هرصورت، د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت (MAIL) ددې وړتیا نه لرله یا ئې ونه غوښتل چې د اوبو لګولو په اړه خپل پلانونه له نوموړې پروژې سره یو ځاي کړي. نتیجه دا شوه چې ځوملیوني ملي پروژې په سیمه کې د اوبو لګولو سیستم ته پراختیا ورنه کړه. د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت (MAIL) د اوبو او انرژۍ وزارت(MEW)د سلما بند په پروژې کې د نورو اړوندو وزارتونو د نه شاملولو په تور وغانده.

**۲. د عادي خلکو ترمینځ همکاري**:په څیړنې کې مالومه شوه چې د نووجوړشوو ادارو ترمینځ، د IAs، WUAs، RRAs او نورو په شمول د عمودي کچې په پرتله په افقي کچه کې همکاري ډیره پیاوړې وه. مانا دا چې د IAs او WUAs ترمینځ ټینګې همکارۍ او اړیکو شتون درلود. د IAs, WUAs, RRAs او نورولوړو موسسو ترمینځ عمودي همکاري کمزوري برېښیده. افقي همکارۍ د سازمانونو ترمینځ او له سازمانونو څخه هاخوا بنه درلوده. د بیلګې په څیر، په داسې حال کې چې د اوبو لګولو اتحادیو (IAs) په خپلو ټولنو کې له اوبو څخه د ګټې اخیستونکو اتحادیو WUAs سره ښې اړیکې درلودې، هغوي په عین حال کې په نورو سیمو کې له IAs سره ښه همکارۍ را مینځ ته کړې وه. په همدې توګه د WUAs ترمینځ دواړه ډوله همکاري تر سترګو شوه. د مثال په توګه د هریرود مرغاب په کاسه کې پورته او ښکته خواته له اوبو څخه د ګټې اخیستونکو اتحادیې (WUAs) د اوبو لګولو په منظور د سلما د بند د دروازو د پرانستلو په اړه له یو بل څخه ملاتړ کوي. د ټولنې په کچه له تشکیلاتو څخه هاخوا همکاري د اړتیا او غوښتنې پربنسټ آسانتیا وموندله. په اوبو لګولو او د اوبو په شریکولو کې د اوبولګولو د اتحادیو (IAs) تخنیکي پوهې له اوبو څخه د ګټې اخیستونکو اتحادیې (WUAs) وهڅولې چې اړیکې او تماسونه ټینګ کړي. د هریرود مرغاب د سیند په غاړوکې له اوبو څخه د ګټې اخیستونکو اتحادیو (WUAs) استازو ومنله چې د اوبو لګولو له اتحادیو (IAs) سره د دوي همکاري ددې لپاره وه چې د هغو له تخنیکي پوهې څخه ګټه واخلي.

> « موږ د اوبو لګولو له اتحادیو (IAs) سره نږدې همکاري لرو. هغوي ښه روزل شوي دي او د کرنې او اوبو لګولو په اړه ډیره پوهه لري. »

د جوړښتونو په دننه او بهرکې افقي همکاري د ټولنې په کچه د منظمو غونډو او اړیکو له لیارې پیاوړې شوه.

> « موږ ( له اوبو څخه ګټې اخیستونکو اتحادیې WUEs ) پخپل مینځ کې ټینګه همکاري لرو او خپلې تجربې په میاشتني غونډو کې له یو بل سره شریکوو.»

د افقي همکاریو ټینګ ریښه اې شتون وړاندیز کوي چې د ټولنې پربنسټ ولاړ جوړښتونه په ساحه کې واقعیتونه په مرکز کې له اړوندو موسسو سره د دوي د یوځاي کیدلو په پرتله ډیر اوچت ګڼي. داسې نه مالومیدل چې دغه ساز مانونه به د سمونو د تګلارې ساتنې کیدل چې وزراتې مبداء لري، تعقیب کړي. کیداي شي چې دا خبره په سیمه ایزه کچه د اړوندو وزارتونو په هغو تشکیلاتي جوړښتونو کې بیا جوړونې ته اشاره کول وي چې په اوبو پورې تړاو لري او له جغرافیائي واحدونو څخه نیولې بیا د سیند د کاسو مدیریت پکې شامل وي. په داسې حال کې چې افقي همکارۍ غیر سیاسي بڼه لرله، عمودي همکارۍ ډیره سیاسي وه او په همدې اساس له ستونزو څخه ډکه څرګنده شوه.

دې څېړنې دا حقیقت ترلاسه کړ چې د ټولنې پربنسټ ولاړو سازمانونو او بنسټونو ترمینځ همکاري په پورتنیو سلسله مراتبو کې له ډېرو ننګونو سره مخامخ شوه. د سیند په څېړل شوو کاسو کې، څرګنده شوه چې د سیند د کاسې د ادارو (RBA) او د ټولنې پربنسټ ولاړو سازمانونو ترمینځ، د سیند د کاسو شورا ګانو RBCs )) له اوبو څخه د ګټه اخیستونکو اتحادیو (WUAs) او اوبو لګولو اتحادیو (AIs) په شمول، همکاري شتون نه درلود. د بیلګې په توګه، د کابل سیند په کاسو کې د اوبو لګولو د اتحادیې (IA) په ډله ایزو متمرکزو بحثونو (FGD) کې د ځواب ورکوونکو لوېپې برخې د اوبو لګولو له نورو اتحادیو سره د ښو اړیکو په اړه پوهاوی درلود، خو دوي له اوبو څخه د ګټه اخیستونکو اتحادیو (WUAs) د شتون او ونډې په اړه کوم مالومات نه درلود. په همدې ډول د شمال په کاسه کې، د ټولنې په کچه ځواب ورکوونکو شکایت درلود چې د سیند د کاسې ادارې (RBAs) او له او بو څخه د ګټه اخیستنکو اتحادیې (WUAs) پرته له دې چې د اوبو لګولو له اتحادیو (IAs) او ټولنې سره سلا وکړي پروژې پلې کوي . داسې مالومیږي چې دې موضوع د اوبو لګولو پروژو طرحه کول او پلي کول خورا ډېر ستونزمن کړی دی. په دې ډول، نوموړې پروژې د کانالونو د امر ورکولو د سیمې په اړه د نا څرګندو او احتمالي مالوماتو په بنسټ ولاړې وې چې وروسته پایله یې په نامناسبو ور خونو او غلاګانو اوښتل وو. د همغږۍ دا ډول نه شتون د ټولنې په کچه له اوبو څخه ګټه اخیستونکي، د اوبو لګولو اتحاد یې (IAs) او بزګران دې ته اړ کړل چې له اوبو څخه د ګټه اخیستونکو اتحادیو (WUAs) سره د ښې همغږۍ او همکارۍ په لټه کې شي، خو کوم بریالیتوب یې ترلاسه نه کړ . د عمودي همکارۍ د را مینځ ته کولو او ټینګښت اړتیا د عادي خلکو او ځواب ورکوونکو له خوا طرحه شوه. له اوبو څخه د ګټه اخیستونکو اتحادیو (WUAs) ترمینځ د افقي همکاریو شتون بسیا نه کوي، بلکې د حکومت له نورو څانګو سره د نږدې همکارۍ او همغږۍ اړتیا هم لیدل کېږي

**۳. د سمونو تګلاره او د اختلافونو حل:** څرګنده شوه چې د ټولنې پر بنسټ ولاړ جوړښتیز سمونونه د اوبو پرسر له اوبو څخه د ګټې اخیستونکو ترمینځ شخړې لږ کړي دي. دغه جوړښتونه، د اوبو لګولو د اتحادیو (IAs) او له اوبو څخه د ګټې اخیستونکو اتحادیو (WUAs) په شمول ، د بزګرانو او له اوبو څخه ګټه اخیستونکو لپاره **هغه** په زړه پورې بدیلونه دي چې د شخړو د **حل** لپاره له فساد څخه د ډکو رسمي میکانیزمونو ځای ناسته شمېرل کېږي. د شخړو او اختلافونو د حل لپاره د اوبو په سمونو کې دري دلیلونه خورا اغیزمن بریښي:

أ. **لاس موندنه:** د مشاجرو د حل کړنلارې او وسایل په تطبیق شوو سمونو کې د لاسرسي وړ وې. د اوبو لګولو اتحاد یې (IAs) د ټولنې له خوا له ټاکل شوو استازو څخه جوړې شوې دي او تل د لاس موندنې وړ وې. په پخوانیو وختونو کې، خلکو هڅه کوله چې د شخړو په دوديز حل کې له میر آب، د ولسوالۍ له ولسوال یا د کلي له مشرانو څخه مرسته وغواړي. دغه منابع تل د لاس موندنې وړ نه دي ځکه چې په ځانګړي توګه د اوبو پرسر د شخړو د حل کولو دنده پر غاړه نه لري.

ب. **ځارنه او ارزونه:** د اوبو لګولو د اتحادیو (IAs) د ځارنې او ارزونې ونډې د ټولنې په کچه له اوبو څخه د ګټې اخیستونکو ترمینځ اختلافونه لږ کړي دي. بر سېره پر دې یې د شخړو د چټک حل لپاره د اوبو د وېش لپاره یو میکانیزم وړاندې کړی دی. د سیندونو په مختلفو غاړو او کاسو کې چېرته چې د ټولنې پر بنسټ موسسې جوړې شوې دي، د راپورونو پر اساس د اوبو لګولو اتحادیو (IAs) د اوبو د غلا په مخنیوي او د اوبو په وېش کې د ځارنې او ارزونې له لارې غښتلې ونډه اخیستې ده.

ج. **د پرېکړو پلي کول**: د «جريمی» سيستم د ټولنې پر بنسټ ولاړو ادارو سره مرسته وکړه چې د خپلو پرېکړو د پلي کولو لپاره داسې وسيلې په لاس کې ولري چې د اوبو وېش او يا د شخړو حل تنظيم کړي. ځينې بزګرانو د خپلو ځمکو د خړوبولو لپاره د سيند په لوړو برخو کې د ورخ د پرانيستلو له لارې او به غلا کولې.

د ټولنې په کچه ځينې ګډون کوونکو د اوبو پرسر له اوبو څخه د ګټې پورته کوونکو ترمينځ د شخړو په حل کې د نوو سمونو وړتيا وستايله. اوس مهال، د شخړو اندازه را ټيټه شوي ده ځکه چې خلک پوهېږي چې د اوبو لګولو اتحاد يې(IAs) د اوبو وېش څاري او جريمه وضعه کوي. برسېره پردې، هر بزګر لپاره د اوبو ځانګړی تخصيص د اوبو لګولو اتحاديو (IAs) ته دا وړتيا ورکوي چې په اغېزمنه توګه د اوبو په وېش پورې اړوندې شخړې حل کړي.

د اهميت وړ خبره داده چې په شخړو کې لږوالی او د پلي شوو سمونو اغيزمنتوب په ټوليزه توګه د مختلفو عواملو نتيجه ده. د بېلګې په توګه په نوموړو عواملو کې د کلکو ابزارونو پلي کول( د اوبو د ورود او خروج دروازو جوړول)، د فزيکي زېربنا وو ودانول ( د کانالونو د سر پټول)، د نوو چوکاټونو او په سيستم پورې د اړوندو عواملو معرفي کول، او په هغو خوندي سيموکې چې سمونې پلي شوي دي د قانون د حاکميت ټينګول، شامل دي. د پلي شوو سمونو اغيزمنتوب د جوړښتونو او چوکاټونو په مشارکتي او برابر ماهيت کې پروت دی چې د شخړو په کمولو او د اوبو په وېش کې کارول کېږي. د مير آب دوديز سيستم، او همدا ډول رسمي مداخلې آمرانه، د مراتبو په سلسلې ولاړ، او اداري فساد ته د ودې ورکولو خوا ته متمايله بڼه لري .د خرابوالي د اوږدو کلونو په موده کې، د مير آب سيستم د دې وړتيا پيدا نه کړه چې د ټولنې په کچه د اوبو څخه د ګټه اخيستونکو او بزګرانو باور لاس ته راوړي. د عادي خلکو مشارکت ( ګډون) او د پرېکړه کولو د ميکانيزم روڼتيا د شخړو په حل کې د سمونو لوړ اغيزمنتوب څرګند کړ. د مير آب يا د کليو د مشرانو له خوا د پرېکړو کول په ډېرو مواردو کې د دوديزو حل لارو په ميکانيزمونو کې د فساد د شتون له امله له تعصب څخه ډکې او له انصاف څخه لرې وې. د نوو عملي شوو ميکانيزمونو بريالیتوب د هغوي د مشارکتي خصلت تر څنګ د شخړو د حل او ريپوټ ورکولو له ترکيبی بهير څخه را مينځ ته کېږي. د ټولنې پر بنسټ د ولاړ واقعيت په توګه، د اوبو لګولو اتحاد يې (IAs) شخړې حل کوي او پرېکړه کرهنيزې ادارې ته د تصديق او ثبت کولو لپاره لېږي. دا ډول تګلاره نه يوازې د ټولنې او دولت ترمينځ يو پُل را مينځ ته کوي بلکې د ټولنې پر بنسټ د شخړو د حل د ميکانيزمونو او رسمي پرېکړه کونکو ترمينځ هم اړيکې ټينګوي.

د مير آب له خوا د شخړو د حل دوديز ميکانيزمونه د فساد خوا ته تمايل لرې، ځکه چې پرېکړې يې په انفرادي بڼه نيول کېږي. په دې توګه، په سيمه کې د واک نخبګان کولای شي په آسانتيا سره په سيستم کې لاسوهنه وکړي. د قدرت خاوندان په مير آب باندې فشار اچوي يا هغه ګواښي چې سرچينې ته نږدې خروجي دروازه وتړي. په عملي شوو بيا سمونو کې، چاکباشي يا مير آب د کانالونو د عملی کولو او د اوبو د وېشلو يواز نی مسؤول شخص نه دی. بر عکس، د اوبو لګولو د اتحاد يې غړي له مير آب سره يو ځای د اوبو په وېش او د شخړو په حل کولو کې ښکېل دي.

مهمه ده وپوهېږو چې د شخړو د مخنيوي او بدلون پياوړتيا د ټولنې پر بنسټ د ولاړو سازمانونو له خوا په عمده کانالونو کې خورا محدوده ده. له هغه ځايه چې عمده کانالونه د مختلفو واحدونو (ولسواليو) د اداري دندو په چوکاټ کې دي، د اوبو لګولو اتحاد يې (IAs) د ريپوټونو پر اساس د دې وس نه لري چې په اوبو پورې تړلي شخړې په عمده کانالونو کې حل کړي. د اوبو لګولو اتحاد يې (IAs) يوازې په يوې واحدې اداري کې اغېزمنې دي. په هر صورت، يوازې د پنج آمو د سيند په کاسه کې د اوبو پر بنسټ ولاړې ولايتی شخړې د سمونو له لارى انتقال شوي. له اوبو څخه د ګټې اخيستونکو اتحاديو (WUAs) جوړيدلو مرسته وکړه چې د کندز په ولايت کې د پنج آمو د سيند په کاسه کې د سر آب او پايان آب کانالونو ترمينځ ستونزې حل شي. د کانالونو د بيا جوړونې او د دروازو د درولو له لارې د اوبو ورود او خروج، او د ټولنې پربنسټ ولاړو ادارو له تآسيس څخه پخوا، د سر آب او پايان آب شخړې د ريپوټونو پراساس خورا ډيرې وې. په معمولي ډول په سرآب کې له اوبو څخه ګټه اخيستونکو د هغو ټولنو اوبه غلا کولې چې په پايان آب کې ميشتې وې. د کندز په ولايت کې له اوبو څخه ګټه اخيستونکو اتحاديو (WUAs) په ويالوباندې د پيرې کولو او ميرآب ته د دندې سپارلو د راڼه بهير له لارې د اختلافاتو له حل کولو سره لويه مرسته کړې ده.

> « تل دې شکایت وجود درلود چې په سرآب کې خلک اوبه غلا کوي. دا موضوع رښتیا وه، نو ځکه موږ اړشوو چې له اوبو څخه د ګټې اخیستونکو اتحادیو د جوړولو له لیارې دې ټولو ستونزو ته د پای ټکي کیږدو.»

ځکه چې د سیند د کاسې د اداري (RBA) صلاحیت یوازې اداري واحدونو یا ولایاتو ته محدود نه ده، نو دا وړتیا ئې درلوده چې د سرآب او پایان آب ولایتونو ترمینځ د اوبو پرسر شخړې **حل** کړي. نوموړې اداري د سیندونو د هغو کاسو مسؤلیت په غاړه اخلي چې له سرآب او پایان آب ولایتونو څخه تیریږي. په تیر شوو وختونو کې، ولایتي مقامونه د اوبو په مدیریت او د ولایتونو ترمینځ د اوبو د ویش پرسر د اختلافونو په **حل** کې ښکیل وو. په نوو سمونو کې د اوبو مدیریت او نورې اړوندې لانجې د سیند د کاسې د اداري (RBA) په صلاحیتونو کې راځي چې مقصد ئې له دودیزو اداري واحدونو یعني ولایتونو څخه دی. په هرصورت، په مرکزکې د اړوندو وزارتونو ترمینځ د همکارۍ نشتوالی او په ولایاتو کې د نوموړو وزارتونو د ریاستونو نه همکاري د سیند د کاسو ادارو (RBAs) ته دا موضوع ستونزمنه کړې ده چې په ولایاتو کې جوړې شي او یا خپلې دندې په اغیزمنې توګه ترسره کړي. ځواب ورکوونکو څرګنده کړه چې د سیند د کاسې د اداري (RBAs) جوړښت او دندې مشارکتي او له اوبو څخه د ګټه اخیستونکو پراساس دي چې د اوبو د مدیریت د پخواني سیستم په پرتله چې د میرآب ونډه پکښې ډیره وه، ډیر ښه والي لري. د اړوندو دولتي ادارو ترمینځ دهمکارۍ نه شتون د RBAs لپاره ستونزې جوړې کړې دي.

| |
|---|
| اصلي موخه په هیواد کې پایښت لرونکې پرمختیا ده چې ډیر آسان کار نه بریښي. په هر صورت، موږ په سمه لاره روان یو. په هرات کې د زعفرانو، په بادغیس کې د پستې، په هرات کې د انګورو، او په فراه کې د هندوانو د تولید ډیروالی د دا ډول ودې ښې دي. موږ په خپله سیمه کې ډیریدونکی کرنیز تولید لرو. اړتیا، داده چې حکومت باید موږ ته بازار پیدا کړي. زه ډاډه یم چې د هریرود د سیند په کاسه کې په کرنیزو تولیداتو کې ښې سمونې رامینځ ته کیږي.<br><br>د هریرود د اوبو څخه د ګټه اخیستونکو اتحاد یه |

د شمال د سیندونو په کاسو کې، پلي شوو سمونو له اوبو **څخه** ګټو اخیستونکو سره مرسته کړې ده چې د اوبو له ویش **څخه** را پیدا شوې شخړې په اغیزمنه توګه **حل** کړي. ځواب ورکوونکو د ټولنې پر بنسټ ولاړ د شخړو د اغیزمن **حل** مکانیزمونه د اوبو لګولو د اتحادیو (IAs) خورا مهمې لاس ته راوړنې شمیري. د هریرود مرغاب په کاسې کې نوو پلي شوو سمونو مرسته کړې ده چې په ټولنه کې په اوبو پورې اړوندې شخړې او اختلافونه **حل** کړي. په ځینو سیمو لکه د چشت شریف په ولسوالۍ کې خلکو څرګنده کړه چې جنګسالارانو او د واک او قدرت نورو نخبګانو د ملکانو یا اربابانو په شمول لا تر اوسه په کافي اندازه د نفوذ خاوندان دي چې په شخړو کې مداخله وکړي او نوموړې شخړې پخپلې ګټې واړوي. **د جوي چشت** په کانال کې جنګسالاران او واکمن کسان د اوبو په اړه د شخړو په هکله غټ پریکړه کوونکي دي.

**۴**. کرنیز مولدیت: په مرکز کې د اړوندو وزارتونو استازو، د سمونو د تګلارې د تطبیق له امله د کرنې په مولدیت کې د یوه سموالي به اړه ریپوټ ورکړ. په هرصورت، داسې منظمو مکانیزمونو ( اړوند وزارتونو) شتون نه درلود چې د کرنې د مولدیت په اړه د سمونو اغیزې تر ارزونې او **تحلیل** لاندې ونیسي. د اټکل شوو ارقامو ( شمیرو) سرچینې ونه پیژندل شوې، ځکه چې مختلفو رسمي سرچینو د کرنې د مولدیت په هکله مختلفې شمیرې وړاندې کړې دي. ځیني لوړ پوړو ګډون کوونکو وویل چې نوو سمونو د کرنې مولدیت **۳۵** سنله لوړ کړې دي.[۳۸] په هرصورت، د باور وړ داسې سرچینې شتون نه درلود چې د نوموړې ادعا ملاتړوکړي. داسې مالومیږي چې دا ډول ادعا ګانې د سیاسي لګښت لپاره د اوبو د عالي شورا (SCOW) د دري میاشتنیو یا میاشتنیو غونډو لپاره چې مشري ئې د ولسمشر په غاړه ده، جوړیږي. ددې ادعا لپاره یوازنۍ شته سرچینه **د اوبو د عالي شورا** د دري میاشتنۍ غونډې یو سند وو چې په هغه کې د غونډې یادښتونو شتون درلود. په نوموړې غونډه کې د **۳۵** سلنې ادعا **د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ د وزارت** د معین له خوا وړاندې شوه.[۳۹] په هرصورت، ددې څیړنې یو ګډون کوونکې چې د **کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت استازیتوب ئې** کاوه، څرګنده کړه چې د کرنې مولدیت په هغو سیمو کې چې د سمونو تګلاره عملي شوې ده د **۱۵** سلنې په شا او خوا کې ده. هغه زیاته کړه چې د مولدیت په اړه له دغه ډیربښت وروسته د بزګرانو په معیشیت کې **۴۰- ۵۰** سلنه زیاتوالي راغلی دي.[۴۰] سره له دې، هغه څه له مخالفت پرته منل شوي بریښیدل، چې د سیندونو د کاسو په څیړل شوو سیمو کې د سمونو د تطبیق له امله د کرنې په مولدیت کې د ښه والۍ په هکله د خلکو ژوره پوهه او د نظریووالي وو.

۳۸ د نورو په مینځ کې د یو ښاغلی نوموړې شمیره په مرکې کې یاده کړه

۳۹ ۴ نمبر مصاحبه، کابل، ۲۰۱۷ د مارچ ۸مه

۴۰ ۱۱ نمبر مصاحبه، ۲۰۱۷\۳\۱۴

د ټولنې په کچه، پلي شوي سمونې د بزګرانو په شمول، له اوبو څخه دګټې اخستونکو له خوا په لوړه کچه د ستايلو او هرکلي وړ ګڼل شوي دي. داسې بريښي چې په زيربنا وو کې بدلونونه د ضايعاتو د کمولو، د اوبو د غلا د لږولو، او د اوبو د ويش د اغېزمن مديريت له لياري د ويالو ( کانالونو ) اهميت لوړکړي دي. د عادي خلکو په نظر د کرنې د مولديت ډيربښت د سيندونو په ټولو کاسوکې رامينځ ته شوي دي. د هريرود مرغاب په کاسه کې، په تيره بيا د هرات په ولايت کې، کرنيز مولديت په هغو سيمو کې ښه والی موندلي چې نوې سمونې پلې شوي دي. د بيلابيلو کانالونو او د اوبو په پلانونو کې کروندګرو او له اوبو څخه ګټه اخيستونکو دا موضوع منلې ده چې د هغوی د کرنې مولديت ډيربښت موندلی دی. په همدې ډول د شمال د سيندونو په کاسه کې، کروندګرو او د نورو ټولنو ځواب ورکوونکو د کرنې د مولديت د ډيروالي په اړه مالومات ورکړي دي. د بيلګې په توګه، د بلخ په ولسوالی کې، د اوبو لګولو د اتحاديې (IA) يو استازي څرګنده کړه چې د اوبو لګولو په يوې ځانګړې سيمه کې کرنيز توليدات د تيروشوو پنځو او لسو کلونو په پرتله ۲۰ او ۳۰ سلنه وده کړې ده[۴۱]. د نورو سيندونو د کاسو په څير، د کابل د سيند له کاسې څخه ځواب ورکوونکو مالومات ورکړل چې د نوو سمونو پلي کيدلو کرنيز مولديت پورته بيولې، اوځنيو ځواب ورکوونکو ددې ډيربښت سلنه خورا لوړه بللې ده. د سمونو له پلي کيدلو څخه پخوا، يو کروندګر کولای شو له يو ايکر (acre) ځمکې څخه ۲۸۰ کيلو ګرامه غنم حاصل واخلي، خو له سمونو څخه وروسته دا حاصل ۷۰۰ کيلو ګرامو ته لوړشو[۴۲]

د هريرود مرغاب په کاسه کې چيرې چې سمونې پلې شوې دي، د ټولنې په کچه له اوبو څخه ګټه اخيستونکو د کرنې د مولديت د ډيربښت په اړه مالومات وړاندې کړي دي. د مثال په توګه، د جوي زنده جان په کانال کې، کروندګرو په هرکال کې د خپلو ځمکو **۳۳** سلنه تر کرنې لاندې نيوله[۴۳]. د سمونو له پلي کولو سره سم بزګرانو د ځمکې کلنۍ کرکيله له **۳۳** سلنې څخه **۵۰** سلنې ته لوړه کړه، او ددې پرمختګ پربنسټ سيمه ايزو بزګرانو او له اوبو څخه ګټه پورته کوونکو د ځمکو په مولديت کې د ۲۰ سلنې ډيروالي په اړه مالومات وړاندې کړي دي[۴۴]. د عامه خلکو ځواب ورکوونکو هم په سيمه کې د کرنې د مولديت ډيروالی منلی ده. حتي په هغو ځايونو کې چيرته چې سمونې په پايان آب کې پلي شوي دي، ځواب ورکوونکو ومنله چې سمونو د اوبو لګولو اغيزمنتيا زياته کړې ده. دا څيرنه څرګندوي چې سمونو د توليد کچه د اوبولګولو د اغيزمنتوب له امله ډيره شوې ده، او د اوبو د تخصيص ډيرالی هرمره تآثير نه لري. د اوبو لګولو اغيزمنتوب په ټولو څيړل شوو کاسو کې شتون لري.

لکه چې پخوا وويل شو، د هريرود مرغاب په کاسه کې، په عمده توګه د هرات په ولايت کې، ديوې پيرۍ زوړ سيستم کارول کيږي چې د ګټه اخيستونکو حقوق پيژني. نوو تطبيق شو و بدلونونو د اوبو حقونو ته بدلون ورنه کړای شو او بدلون نشي ورکولای. د هغه پرځای ئې اغيزمن او بسيا مکانيزمونه لکه له **حقابې** ( د اوبو تخصيص) څخه ګټه اخيستنه معرفي کړه. د کابل په کاسه کې د کرنې مولديت په اوبو لګولو کې د اغيزمنتوب په زياتوالي پورې اړه لري چې د اوبو په بهير کې د ښه والي او د اوبو له ضايعاتو څخه د مخنيوي په پايله کې لاس ته راځي.

> « پخوا، موږ يوازې څلور ايکره ځمکه په ۳۰ دقيقوکې خړوبه کوله، اوس په ورته وخت کې ۲ ايکره ځمکې ته اوبه ورکولای شو.»[۴۵]

د اوبو لګولو اغيزمنتوب بزګرانوته د اوړتيا ور په برخه کړه چې په پايان آب سيمو کې هومره ځمکه ترکرنې لاندې راولي چې له سمونو څخه پخواني اوبه نشوې ورکولای.

> « پخوا زموږ ځمکو ته اوبه په **۵** ساعتونو کې رارسيدلې [ له سرآب څخه] خو اوس يوازې په نيم ساعت کې زموږ ځمکو ته رارسيږي. ددې ترڅنګ، د پسرلي په پاي کې د پايان آب ځمکې له اوبو څخه بې برخې وې خو اوس په هر موسم کې درې څلور واره اوبه لري »[۴۶]

---

۴۱ د شمال د سيند کاسې له اتحاديو سره متمرکزه ډله ايزه خبري اتري، د ۲۰۱۷ کال د اپريل ۱۲مه

۴۲ دشت ارچي د اوبو لګولو د اتحاديې سره مرکه. د کابل د سيند دکاسې د اوبو لګولو له اتحادي له استازو سره متمرکز ډله ايزه خبرې اتري. د ۲۰۱۷ کال د اپريل۵ مه.

۴۳ HAYEL ي محلي کار دي چې د کرکيلې لپاره په هرکال کې د ځمکې ۳۳ سلنه خړوبوي.

۴۴ د هريرود مرغاب د سيند د کاسې له WUAs سره متمرکز ډله ايزو بحثونه، د ۲۰۱۷ کال د اپريل ۱۹مه.

۴۵ د کابل د سيند په کاسه کې د اوبو لګولو د اتحاديې له استازو سره متمرکز ډله ايز بحث. د ۲۰۱۷ د اپريل ۵ مه.

۴۶ د کابل د سيند د کاسې د اوبو لګولو د اتحاديې له استازو سره متمرکز ډله ايز بحث. د ۲۰۱۷ کال د اپريل ۵ مه.

> زما په کلي کې د پیازو تولیدات د ټول ولایت لپاره بس وو. ځکه چې د پیازو د خرڅلاو لپاره بازار شتون نه درلود، کروندګرو د پیازو د حاصل اخیستلو لپاره زړه نه ښه کاوه. د پیازو بیه د هر من (۷ کیلو ګرامه) لپاره یوازې **۱۵** یا **۲۰** افغانۍ (۳۰ سنته) وه. د بیې له ځمکې څخه د پیازو د راټولولو لپاره د کارګرانو مزد هم نه پوره کاوه.
>
> د شمال اوبو لګولو د اتحادیې صراف.

د شمال سیندونو په کاسه کې، چیرې چې د سمونو په پایله کې د ټولنې پربنسټ نوي موسسې جوړې شوي دي، ځواب ورکوونکو څرګنده کړه چې د اوبولګولو اغیزمنتوب څوځلي ښه والی موندلی دی. د بلخ په ولسوالۍ کې وویل شو چې د پایان آب د کروند ګرو د ځمکو د اوبولګولو لپاره د اړتیا وړ وخت ډیر لږ شوي دي، چې له هغو سره ئې مرسته کړي چې خپله کرنیزه ځمکه پراخه کړي.[47] دغو تآسیس شوو محلي موسسو او د مدیریت مکانیزمونو د اوبو د ضایعاتو او غلا د مخنیوي له لیارې د کرنې مولدیت ته وده ورکړه. وروسته، د اوبو د ډیروالي له امله د کانالونو ( ویالو ) د قوماندې ساحو پراختیا

ومونده او بزګرانو ته ئې د اوړتیا وړکړه چې ډیره ځمکه ترکرکیلي لاندې راوړي او ډیر عواید ترلاسه کړي. [48] په هرحال، د یادونې وړ ده چې کیداي شي په کرنیز مولدیت کې د را پورشوي ډیروالی په زړه پورې نه وي. دا امکان شتون لري چې په اصلي او عمده کانالونو ( ویالو ) کې د اوبو ډیروالي مولدیت لوړ کړي. برسیره پردې د اوبولګولو د اتحادیو (IAs) او له اوبو څخه د ګټه اخیستونکو اتحادیو (WUAs) د ظرفیت د لوړولو په صورت کې، چې په عمده توګه د اوبولګولو د ډیرو ښو اقدامونو او مناسبو وسایلو سره د هغو د سمبالولو له لارې لاس ته راځي، مولدیت لا ډیره پراختیا ومومي.

په دې موضوع باندې پوهیدل ډیر اهمیت لري چې د مولدیت ډیروالی د لوړ عاید له پلوه، د بزګرانو په معیشیت کې د ښه الي په مانا نه دي. په ټولو هغو سیمو کې چې د سمونو له امله مولدیت لوړ شوي وو کرنیزو تولیداتوته د بازار د نشتوالي په اړه خبرې روانې وي.

د بلخ په ولسوالۍ کې، د شمال سیندونو په کاسوکې د کرنیز مولدیت ډیروالي د کرنې د تولیداتو د بیې ټیټوالي رامینځ ته کړ. په دې سیمه کې، مالومات ورکوونکو، بزګرانو ته د هغوي د تولیداتو د خرڅلاو لپاره د بازار د نه پیدا کولو په اړه، د **کرنې په ادارې** باندې نیوکه کوله. په داسې حال کې چې سمونو د تولید په ډیرولو باندي اغیزه درلوده، خو بیاهم د همغږۍ نه شتون او د سمونو د پلي کولو ګډوډ والی وو چې بزګران ئې له مالي ګټې اخیستني څخه بې برخې کړل.

**۵. د سمونو په کړنلاره کې د اوبو ویش:** د نوو سمونو په هکله عمومي غلطي داده چې ګواکې په دې تګلاره کې د اوبو نوي حقونه او د شخړو د حل لپاره نوي مکانیزمونه معرفي شوي دي. خو حقیقت دادي چې د اوبو حقونو خپل دودیز خصلت ساتلی دی او د نوو پلي شوو سمونو د دودیزو کړنلارو د ښه پلي کیدلو لپاره نوي وسایل او چوکاټونه رامینځ ته شوي دي. که څه هم د عامه خلکو په کچه ګډون کوونکو د سیند په ټولو کاسوکې د اوبو په شته حقونو کې د بدلون غوښتنه کوله ، خو دا خبره د ځمکو له اصلاحاتو څخه پرته شونې نه وه. د اوبو حقونه د ځمکې له مالکیت او په دودیزو قوانینو او مذهبي باورونو کې له دي حقونو څخه له ګټې اخیستنې څخه نه بیلدونکي دي.

په عملي توګه، د افغانستان په څېرهیواد کې، چیرې چې رسمي ادارې کمزورې دي او پراخ دودیز قوانین شتون لري، د اوبو د حقونو بدلون له ستونزو څخه ډک بهیر ده. په داسې حال کې چې د اوبو د حقونو بدلون د ځکمې د اصلاحاتو له پیل څخه پرته عملي نه ده، د ځمکو اصلاحات له سیاسي او ټولنیز اړخه له لوړو خطرونو څخه ډکه پروسه ده، او هر هغه دولت چې کمزورې ادارې ولري د داسې اصلاحاتو په اړه حتي سوچ هم نه کوي. په دې ډول، په اوسنیو ټولنیزو سیاسي شرایطو کې د اوبو د شته حقونو بدلون او نوو حقونو معرفي کول نه شونی بریښي. دا واقعیت د اوبو په نوي قانون کې ، چې له یو بل څخه د نه جلاکیدونکو، نامتمرکزو، او مشارکتي میکانیزمونو او چوکاټونه ته د اوبو د ویش د یوې پیړۍ زړو سیستمونو د بدلون لپاره، وده ورکوي، ښه پیژندل شوي دي.

د نوو پلي شوو سمونو د تګلارې او د میرآب د دودیز سیستم ترمینځ عمده توپیرونه د پریکړو په کولو کې څرګندیږي. د سمونو تګلاره مشارکتي ده او له یوې سرچینې څخه ټاکل شوو ادارو ، لکه له اوبو څخه د ګټه اخیستونکو اتحادیو او د اوبو لګولو اتحادیو، ته انتقال پیدا کوي. برخلاف، د میرآب سیستم متمرکزده او ټول قدرت یوه ځانګړي شخص ته سپاري چې په عمده توګه له جنګسالارانو او د ځواک

47 د شمال د سیندونو کاسې له ( IAs ) د اوبو لګولو اتحاد یې سره متمرکز ډله ایز بحث.

48 د شمال سیندونو د کاسې د اوبو لګولو له اتحادیې سره متمرکزه ډله ایز بحث. د ۲۰۱۷ کال د اپریل ۱۲ مه.

ځښتنانو سره اړخ لګوي. لکه چې د هریرود مرغاب په کاسه کې یوه ځواب ورکوونکي ځرګنده کړه، د میرآب سیستم د چا په وړاندې حساب ورکوونکي نه ده او په ډیرو مواردو کې د پس آب بزګرانو او د اوبو برابر ویش ته پاملرنه نه کوي.[۴۹] باید څرګنده کړو چې د میرآب ونډه لاتر اوسه د ټولنې پربنسټ ولاړو جوړښتونو او په عمده توګه د اوبو لګولو په اتحادیو(IAs) کې شامله ده. په هرحال، میرآب په داسې موقف کې نه ده چې په ځانګړې ډول د اوبو د ویش یا د شخړو د **حل** په اړه پریکړه وکړي. برخلاف، میرآب د یوه میکانیزم د یوې برخې په څیر پیژندل کیږي چې د پریکړو په کولو کې برخه اخلي. په هغو سیمو کې چیرې چې سمونې پلې شوي دي، د اختلافونو **حل** جوړشوو موسسو ته سپارل شوي دي. په داسې سیمو کې، له اوبو څخه ګټه اخیستونکي د داسې کسانو په توګه وپیژندل شول چې په ځانګړې توګه هغه میکانیزمونو کاروي چې د سمونې د تګلارې له خوا معرفي شوي دي. دغه موندنه په ساحه کې د یوناما له خوا د **قانون د حاکمیت** په اړه له ارزونې سره ورته والی نه لري چې دا خبره یې جوته کړې ده چې له اوبو څخه ګټه اخیستونکي څرنګه دې دریځ ته دوام ورکوي چې په ځانګړې یا لږ ترلږه عمده توګه د شخړو په **حل** کې د اوبو پرمحلي مالکانو باندې تکیه ولري.[۵۰]

دا ډول موندنه په پوره کچه متني بڼه لري. په ټولیزه توګه، خلک د رسمي عدلي سیستمونو پرځای د منازعو د **حل** دودیز میکانیزمونه خوښوي. په هرحال په هغو ځایونو کې چې نوې سمونې که څه هم په محدوده کچه – پلي شوي دي، له اوبو څخه ګټه اخیستونکي په اوبو پورې د اړوندو شخړو د **حل** لپاره له نوو معرفي شوو میکانیزمونو څخه کار اخلي.

لکه چې پخوا وویل شو، نوو سمونو د اوبو د حقونو سیستم ته بدلون ورنه کړ، بلکې یوازې د ښه اغیزمنتوب او مدیریت لپاره یې نوي وسائل او ادارې معرفي کړې. د اوبو په ویش کې د متخصص په توګه د میرآب ونډې د اوبو لګولو په اتحادیې کې ځای ونیو چې یوازې د اوبو په ویشلو او د شخړو په **حل** کې تخنیکي پوهه وړاندې کوي. پریکړې مشارکتي بڼه لري او د رایو په اتفاق نیول کیږي. یو عامل چې د نوو سمونو په اړه آسانتیا رامینځ ته کوي، د میرآب لپاره د فساد په فرصتونو کې لږ والی ده . میرآب نور د دې امکانات له لاسه ورکوي چې د پایان آب اوبه د سرآب په کروند ګرو باندې وپلوري، ځکه چې له اوبو څخه د ګټه اخیستونکو اتحادیه (WUA) شتون لري[۵۱].

۴۹ د هریرود مرغاب د سیند په کاسه کې له اوبو څخه د ګټه اخیستونکو له اتحادیې سره متمرکز ډله ایز بحث، د ۲۰۱۷ کال د اپریل ۲۹ مه.

۵۰ یوناما. د اوبو حقونه: دکرنې لپاره د افغانستان د اوبو قانوني چوکاټ یوه ارزونه. دوهم مخ.

۵۱ د هریرود مرغاب د سیند کاسه، له اوبو څخه د ګټه اخیستونکو له اتحادیو سره متمرکز ډله ایز بحث (FGD). د ۲۰۱۷ کال د اپریل ۱۹مه.

# ۴. پاليلې او وړانديزونه

د اوبو د سرچينو د بشپړ مديريت (IWRM) پربنسټ د سمونو د تګلارو پلي کول د سيند په هيڅ يوې کاسې کې ترسره شوی نه ده. په **۲۰۰۹** کال کې د موضوع له تائيد څخه راهيسې، دهغې پلي کيدنه ډيره ورو او پخه بريښيدله او د سيند په مختلفو کاسوکې يوازې په کوچنۍ کچه عملي کيدله. برسيره پردې هغه تشکيلاتي جوړښتونه چې د **اوبو** په **قانون** کې يې وړانديز شوي وو د سيندونو په کاسو کې تاسيس نه شول. تګلاره د هلمند په کاسه کې په هيڅ ډول پيل نه شوه. د ټولنې پربنسټ ولاړجوړښتونه، د WUAs او IAs په شمول، په کوچنۍ شميرې د پنج آمو، شمال، کابل او هريرود مرغاب سيندونو په کاسو کې، جوړې شوې.

د تګلارې په پلی کولو کې خنډونه په ډيرو مواردو کې د همغږۍ د نشتوالي، محدودو مالي/ بوديجوي سرچينو او د امنيتي ستونزمنو حالتونو له امله رامينځ ته شوي وو. تګلاره په عين حال کې د وزارتونو په کچه د همغږۍ د پوره نشتوالي له امله له خنډونو سره مخامخ شوي وه. د وزارتونو ترمنځ د قدرت پرسرمبارزې د تګلارې پلي کولو ته په پوره توګه سياسي بنه ورکړه. که څه هم تګلاره د سيندونو د مختلفو کاسو په محدودو سيمو کې پلي شوي ده، خو له اوبو څخه د ګټه اخيستونکو، عامه خلکو او نورو شريکانو پوره رضايت يې ترلاسه کړی دی.

برسيره پردې، تکلاره د ټولنې په کچه د اوبو پرسر د شخړو په حل کې ډيره اغيزمنه ده او د کرنې د مولديت د ښه والي لاملونه يې برابر کړي دي. د کړنلارې د عملي کولو په موخه ځينې منابع د ځينو څيړنو او حتي اړوندو وزارتونو (لکه د کليو د بيارغونې او پرمختيا او د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارتونه) په شمول **د اوبو** په **قانون** کې د **تعديلونو** وړانديز کوي. دا ډول وړانديز به د اوبو ويش، د اوبو لګولو اغيزمنتوب او شخړو حل/ بدلون په اړه د پلي شوو سمونو د کمزورتيا لاملونه رامينځ ته کړي. دې څېړنې د اوبو په قانون کې د بدلون لپاره کوم موجه دليل پيدا نه کړ.

د تکلارې په پلې کولو کې عمده ستونزه د اوبو د سرچينو په بشپړ مديريت کې د حکومتولۍ د اوسنيو اداري جوړښتونو ترمينځ د همغږۍ نه شتون دی. د اوبو د سرچينو بشپړ مديريت (IWRM) وړانديز کوي چې د اوبو حکومتولي بايد د يوه سيند د طبيعي پولو پربنسټ ولاړه وي، په داسې حال کې چې د اوبو سکتور د سياسي اداري پرواحدونو تکيه لري. دې ډول ناسازګاري په پاي کې د تګلارې د عملي کيدو په وړاندې خنډونه رامينځ ته کړل.

په اړونده وزارتونو کې داسې منظمه او عملي تګلاره شتون نه لري چې د پلي شوو سمونو اغيزمنتوب، د کرنې مولديت او د شخړو د حل لارې تر تحليل او ارزونې لاندې ونيسي. دا موضوع د دې سبب کيږي چې د پلي شوو تګلارو د اغيزمنتوب په اړه اټکل شوي شميرې ( ارقام)،مالومات او کمزوری قضاوت را مينځ ته شي.

د سمونو د تګلارې د بريالي پلي کېدو او پايښت په لار کې امنيت، يو عمده عامل وو. په نا امنه سيمو کې د تګلارې پلي کول نا ممکن وو. برسېره پردې، پلی شوی تګلارې په نا امنه چاپيريال کې پايښت نه درلود.

لکه چې پخوا وويل شو، پلي شوو سمونو د عادي خلکو په کچه کرهنيز مولديت لوړ کړ. په هر صورت د کرنې ډېر حاصل، د کروندګرو د معيشيت او عايداتو د ښه والي په مانا نه وو. د کرنې د مولديت د ښه والي تر څنګ، محلی، سيمه ايزو او بهرنيو بازارونو ته لاس موندنه د لوړ عايد د لاس ته راوړلو لپاره ډېر اهميت لري.

## د پاليسي په اړه وړانديزونه

کړنلاره د اړونده وزارتونو ترمينځ د قدرت د ترلاسه کولو په مينځ کې له ستونزو سره مخامخ وه. د دې لپاره چې د سمونو کړنلاره عملي بڼه ترلاسه کړي ، په ټينګه توګه وړانديز کيږی ترڅو يو تخنيکی، بې پرې او خواکمنه کاري ډله په مرکز کې جوړه شي. د کړنلارې پلي کول بايد د اړوندو وزارتونو د کار له اجنډا څخه و ايستل شي ترڅو د هغوی د نفوذ او اغېزې مخنيوی وشي.

د **اوبو اوسنۍ عالي شورا** یو سیاسي جوړښت دی چې اصول او دندې یې د اوبو د پراختیا لپاره د **همغږۍ** او نوښتونو آسانه کول دي[۵۲] کاري ډله باید په مرکز کې یو فني تخنیکي جوړښت وي چې په ځانګړې توګه د سمونې د اجنډا پلي کول په غاړه ولري.

د سمونو په تګلاره او د **اوبو په قانون** کې د بدلون راوستل یو بې بنسټه ، بې وخته او نا موجه کار شمېرل کېږي. د تګلارې نه بریالیتوب د کومې ذاتي ستونزې زېږنده نه، بلکې په مرکز کې د اړونده وزارتونو د کار پایله ده. منطقي دریځ دادی چې کړنلارې ته، مخکې تر دې چې بې اغېزې او نه پلي کېدونکي وګڼل شي، یو بل امکان هم ورکړل شي. واقعیت دادی چې کړنلاره که چیرې د ټینګې سیاسي ارادې له خوا ملاتړ شي په لوړې کچې پلي کېدونکي او اغېزمنه ده. د کړنلارې عمده او مرکزي دنده د طبیعي پولو پر اساس د اوبو د حکومتولۍ بیا جوړونه ده، په داسې حال کې چې اوسني جوړښتونه د سیاسي اداري واحدونو پربنسټ ولاړ دي.

وړاندیز داده چې د اړوندو وزارتونو د اوبو د سکتور دندې باید له سیاسي اداري واحدونو څخه د یوه سیند طبیعي پولو ته واوړي. دې ډول نا **همغږۍ** او تضاد نه یوازې د اړوندو وزارتونو د اوبو د سکتور دندې باید له سیاسي اداري واحدونو څخه د یوه سیند طبیعي پولو ته واوړي. دې ډول نا **همغږۍ** او تضاد نه یوازې د اړونده وزارتونو په مینځ کې د قدرت پرسر مبارزه را مینځ ته کړې بلکې د اړونده وزارتونو لپاره یې دا دلیل برابر کړی دی چې د خورا لوړ مرکزیت درلودونکی مداخلو کړنلاره تعقیب کړي. په مرکز کې، د کرهنیز مولدیت د سمونو د کړنلارې د اغېزمنتوب په اړه اندیښنې شتون لري. د دې خبرې علت د عامه پالیسي او علمي تحقیقاتو ترمینځ د اړیکو نه شتون ګڼل کیږي. دا څېړنه وړاندیز کوي چې په اړوند ملي موسسو کې د سمونو د پلي کېدلو اغېزې په ملي، محلي او د ټولنې په کچه په منظمه توګه تر ارزونې لاندې ونیول شي او جوړښتیزه بڼه غوره کړي. د عامه پالیسۍ او علمي څېړنو ترمینځ باید یوه غښتلې اړیکه را مینځ ته شي.

لکه چې پخوا وویل شو، د سمونو د پلي کېدلو په لار کې د امنیت نه شتون یوه اساسي او عمده ستونزه ده، برسېره پردې، نا امني د سمونو مخنیوی کوي. دا لیکنه د اوبو او امنیت په سکتور کې د ښکېلو او اړوندو ادارو ترمینځ د همغږۍ د میکانیزم د جوړولو وړاندیز کوي. البته دا موضوع د کرنې او اوبو د سکتورونو د امنیتي کولو په مانا نه ده. خو په هر صورت، د کرنې (غذا)، اوبو، چاپیریال، افرادو او ټولنې ترمینځ د انډولیزو اړیکو د را مینځ ته کولو له لارې د اشخاصو، ټولنو او جامعې د ساتلو دنده ترسره کوي.

سره له دې چې پلي شوو سمونو کرهنیز مولدیت ته وده ورکړې او له اوبو څخه د ګټه اخیستونکو رضایت یې ترلاسه کړې دی، خو بزګرانو د امکان ترلاسه کړی نه ده چې د مارکیټ (بازار) د نه شتون له امله خپل عواید لوړ کړي. دا څېړنه د سمونو په کړنلاره کې د بازار موندنې او آسانتیا وو د میکانیزمونو ترمینځ د یو ځای کولو وړاندیز کوي. کروندګر اړ دې چې خپل حاصلات په عاید بدل کړي. بازار ته لاس موندنه به هغوي ته وړتیا ورکړي چې زیاتېدونکي معیشیت ولري.

۵۲ د اوبو قانون. رسمي جریده. د عدلي وزارت. د افغانستان اسلامی جمهوریت. ۹۸۰ مه ګڼه د ۲۰۰۹ کال د اپریل ۲۲ مه. نهمه ماده.

# د ماخذونو لړلیک


په افغانستان کې د نړیوال بانک ډله. هیوادني تازه مالومات. نړیوال بانک، **۰۴۹** ګڼه، د **۲۰۱۲** کال اکتوبر.

د افغانستان اسلامي جمهوریت. د کرنې او کلیو د پراختیا د سکتور ستراتېژي. ۲۰۰۷/ ۲۰۰۸ – ۲۰۱۲/۲۰۱۳. د ۲۰۰۸ کال فبروري.

د نړیوال بانک. د هیواد پیژندنه: افغانستان. د نړیوالې پرمختیا د شاخصونو دمالومات زیرمه.

د نړیوال بانک ډله. په افغانستان کې د خطر او نا څرګندتیا پیژندنه. د افغانستان په اړه د بروکسیل کنفرانس. د ۲۰۱۲ کال د اکتوبر ۴ مه- **۵** مه نېټه.

په نړیوالو اوبو کې مشارکت، ۲۰۰۰. د اوبو د زېرمو بشپړ مدیریت. د GWP تخنیکی مشورتي کمېټه. ۴ مه شالید پاڼه. استکهلم: د اوبو د نړیوال مشارکت دارالانشاء.

ANDS. د اوبو د سکتور ستراتېژي. ۲۰۰۷/ ۲۰۰۸ – ۲۰۱۲/۲۰۱۳. دوهم ټوک. د زیربنا دریيم ستون. د ۲۰۰۸ کال فبروري.

د اوبو قانون. رسمي جریده. دعدلیي وزارت. د افغانستان اسلامي جمهوریت ۹۸۰ ګڼه. د **۲۰۰۹** کال د اپرېل **۲۲** مه.

ویتسیک، م. میکانتوش، ب. جغري، پ. له نظر څخه تر عمل پوري: د اوبو د زیرمو بشپړ مدیریت، او د اوبو په سکتور کې د پلیتوب د مدیریت په اړه یوه انتقادي ارزونه. ایکولوژي او ټولنه ۱۳(۲): **۲۹**.

جغري، پ.، جیري، م. **۲۰۰۷**. د اوبو د زېرمو بشپړ مدیریت: له ځان غوښتنې تر حقیقت پورې په لار کې ورک کیدل؟ د اوبو په هکله ساینس او ټکنالوژي **۵۳** (۱): ۸-۱.

چرلیت، جې. د « اوبو د سرچینو د بشپړ مدیریت » د مینځ ته را تګ او خوریدلو تعقیب، د EASA د دو کلن، دولسم کنفرانس، نینتری. د ۲۰۱۲ کال د جولای ۱۳-۱۰، نه چاپ شوی سند.

اودندال پي. ای. ۲۰۰۲. د اوبو د زېرمو بشپړ مدیریت (IWAM)، د ښاري اوبو پایښت لرونکي مدیریت ته له ځانګړې اشاري سره. په **سویلي افریقي کې د چاپریال د بشپړ مدیریت په اړه کنفرانس او نندارتون** (CEMSA) ۲۰۰۲، جواهانسبورګ، سویلی افریقا.

ملګري ملتونه، د اوبو د زېرمو بشپړ مدیریت (UNDESA). IWRM. ۲۰۱۴.

سراوانان او نور. د اوبو د زېرمو بشپړ مدیریت ته انتقادی بیا کتنه: نه وېشل شوي بحث څخه هاخوا حرکت. د طبیعي زېرمو غونډه **۳۳** (۲۰۰۹) ۷۲ – ۸۲

یوناما. د اوبو حقوق: د کرنې د اوبو لپاره د افغانستان د قانوني چوکاټ یوه ارزونه.

جان هسنګ او نور. **د اوبو د زېرمو بشپړ مدیریت** په عمل کې. د **ملګرو ملتونو له خوا د نړۍ د اوبو ارزونې د پروګرام د بحث** مقاله. ۲۰۰۹.

هل اي. کارد ویل او نور. د اوبو سرچینو بشپړ مدیریت: تعریفونه او مفهومونه. د اوبو په اړه د معاصرو څېړنو او پوهو ژورنال **۱۳۵** مه ګڼه: ۱۸- ۸، د ۲۰۰۲ کال ډیسمبر.

کولاترنیک. د افغانستان ګواښونه: په یوه حائل هیواد کې بیارغونه. د امریکې د تاریخ ژورنال. ۸۹(۲) **۵۱۲** – **۵۳۷** dui: ۳۰۹۲۱۷۱/۱۰،۲۳۰۷ .

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو یو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU لیکچر یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون یې کاروئ، یا یوازې په دې وروستیو کې له دغه ادارې سره بلد شوي یاست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پایلو د شریکولو طریقې و ارزوو. د نظرونو شریکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ایمیل کول دي: areu@areu.org.af

یا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: ۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته یې ویلی شئ، خو په ممکنه ډول یو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړیکه نیسئ (یعنې د خپرونو، غونډو یا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بریښنایي که چاپ شوی بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهیرونو یا پایلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې یا موضوع ګانې چې تاسو یې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې یا فعالیتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې یا لېوالتیا ډګر، دنده یا څېړنه، او دغه راز موقعیت؟

# د AREU وروستۍ خپرونې

ټولې خپرونې له www.areu.org.af وېبپاڼې ډاونلوډولی شئ، او ډېر يې په چاپ شوی يا هارډکاپي بڼه په کابل کې د AREU له دفتره هم لاسته راوړلی شئ.

| نېټه | د خپرونې نوم | ليکونکي | په دري ژبه لاس ته راتلونکي | په پښتو ژبه لاس ته راتلونکي | د څېړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| زمری ۱۳۹۷ | په افغانستان کی د کوچی-بزګرانو تر منځ د شخړو څېړنه | داکتر انتونيو ګيستوزی | √ | √ | ټولنيز ملاتړ او معيشت | |
| زمری ۱۳۹۷ | په افغانستان کی قضايی بيا کتنه | غزال حارس | √ | √ | اساسی حقوق | |
| زمری ۱۳۹۷ | په افغانستان کی د اجراييه قوی تکامل: تيرته کتنه او راتلونکی لپاره وړانديزونه | کاوون کاکړ، توماس کريمر او همايون رؤفی | √ | √ | اساسی حقوق | |
| غبرګولی ۱۳۹۷ | په افغانستان کی ښاری حکومتولی: د ښاروالو د پراختيايی پروګرام ارزونه | دتلف کيمر او ذبيح الله عيسی | √ | √ | حکومتولی او سياسی اقتصاد | |
| غبرګولی ۱۳۹۷ | دکانونو حکومتولی: د استخراجی صنعتونو دماليات اغيزناک مديريت | جاويد نورانی او نجيب الله زيار | √ | √ | حکومتولی او سياسی اقتصاد | |
| غبرګولی ۱۳۹۷ | دکډوالی حکومتولی: په افغانستان کی د مفاهيمو او نهادونو کاری چوکات وده | ولی محمد کنډيوال او هلن سيز | √ | √ | حکومتولی او سياسی اقتصاد | |
| د ۲۰۱۷ کال د جولای مياشت | په افغانستان کې د ښې حکومتولی په اړه د مدني ټولنې وندړه | اورخلا اشرف نعمت او کارن ورنر | √ | √ | مدني ټولنه او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۷ کال د جولای مياشت | په افغانستان کې سيمه ييزه حکومتولي | آريا نجات؛ کريستوف ګوستانی بصيرفدا او جان کويهلر | √ | √ | سيمه ايزه حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۷ کال د جولای مياشت | خلکو ته د حکومت نږدې کول: په افغانستان کې د پلان او بودجې جوړولو غير متمرکز کول | نعمت الله بيژن؛ فرحت اميل او هارون نايب خيل | | | ولايتی پلان او بودجه جوړول او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۷ کال د مي مياشت | د استخراجي سکتور لپاره د حکومتولۍ انډوليز اقدام | جاويد نوراني او ليين دی بروکيير | | | د کانونو کيندنه او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۷ کال د مي مياشت | له سرحد څخه پورې خوا د اوبو د سرچينو انکشاف: د افغانستان، ايران او پاکستان ترمنيځ د همکارۍ ليدونه کوم دي؟ | وينسنت توماس، مجيب احمد عزيزي او خالد بهزاد | | | د طبيعي منابعو مديريت | څېړنپاڼه |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۲ کال د مې میاشت | نارینه او «نارینتوب» ته نږدې کتنه: د جنسیت په برابروالي کې د هغوی فعاله ونډه اخیستنه | لیبه ویلفریدا آر ای پیلا نګو، چونه آر ایچاوز، پرویز (طفیل)؟ سید مهدي موسوي | √ | √ | جنسیت | د پالیسۍ یادداښت |
| د ۲۰۱۲ کال د اپریل میاشت | د شګو پربنسټ جوړ شوی دولت: تریاکو افغانستان څنګه کمزوری کړ | دیوید مانسفیلد | | | د طبیعي منابعو مدیریت | کتاب |
| د ۲۰۱۲ کال د اپریل میاشت | د کندهار په ولایت کې د ساحوي کار لنډ یادښت، د ۲۰۱۵ کال له ډسمبر څخه د ۲۰۱۲ کال تر جنوري پورې: تریاک او په کلیو کې معیشت | پاول فیشتین | √ | √ | د طبیعي منابعو مدیریت | لنډیز |
| د ۲۰۱۲ کال د مارچ میاشت | له آیساف څخه وروسته د افغانستان ملي اردو | انتونیو جیوستوزي او علی محمد علی | | | حکومتولي | معلوماتي سند |
| د ۲۰۱۲ کال د فبروري میاشت | شیطان په جزئیاتو کې ده: په ننګرهار کې یاغیتوب، تاوتریخوالی او په پراخه کچه د مخدره توکو د تولید پرله پسې کمښت | دیوید مانسفیلد | √ | √ | د طبیعي منابعو مدیریت | لنډیز |
| د ۲۰۱۲ کال د فبروري میاشت | په افغانستان کې د زده کړې او روغتیائي خدمتونو د وړاندې کولو سیاسي اقتصاد | AREU | | | حکومتولي او سیاسي اقتصاد | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د جنوري میاشت | په کورنیو کې د اوبو نه خوندیتوب: په افغانستان کې د ښې کرنې لپاره د ځښلو اوبو ته د پایښت لرونکي لا سرسي بدلون | توماس وینسنت | √ | √ | پایښت لرونکی معیشت | د بحث لپاره لیکنه |
| د ۲۰۱۲ کال د جنوري میاشت | د جنسیتي نا برابرۍ بل اړخ: په افغانستان کې نارینه او نارینتوب | چونا آر. ایچاویز؛ سید مهدي موسوي، او لیبه ویلفریدا آر ای پیلانګو | √ | √ | جنسیت | څېړنپاڼه |

څــیړنې د ښه
افغانســـتان
لپاره
AREU

تولی خپرونې په دغه پاڼه کې د راښکته کولو لپاره www.areu.org.af لاس ته راوړی شی.

په کابل کې ددغه اداري په دفتر کې چاپ شوی کاپیانې هم موجودی دی.

**د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**
لسمه ناحیه، لومړی سړک، نوی ښار،
کابل، افغانستان
تیلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰)۹۳+
بریښنالیک:publications@areu.org.af
ویب پاڼه:www.areu.org.af

ISBN 978-9936-628-95-3